# عزتمن اصحاب (رض)

 څېړونکي:

قاري عزت الله حنيف

# عزتمن اصحاب (رض)

ځیړونکي:

قاري عزت الله حنیف

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب مشخصات:

د کتاب نوم: عزتمن اصحاب

څېړونکی: قاري عزت الله حنيف

د چاپ کال او نوبت: لومړی ۱۳۹۰

تعداد: ۱۱۳ مخه.

# د څېړونکي سریزه

د نبي کریم محمد مصطفی صلی الله علیه و آله وسلم ټول یاران ان که د یوې شېبې لپاره یې هم کتلی وي، عزتمن، د درناوي وړ او زموږ د سترګو تور دي.

دوی د ایمان او کړو وړو له اړخه په بېلابېلو درجو کې پراته دي، چې ځینې یې په قرآن کې ستایل شوي او ځینې پکې دوه مخي وو، چې په دې اړه په قرآن او سنتو کې یادونه شوې ده، دغسې ځینو یې د رسول مکرم ارواحنا فداه تر وفات وروسته په دیني احکامو کې ادلون بدلون او بدعت رامنځ ته کړ او ځینې یې مرتدان شول.

او د رسول الله (ص) د وینا له مخې: ((زه به تر تاسې ړومبی د (کوثر) ډنډ پر غاړه یم؛ نو چې څوک راغی او له ډنډ یې وڅښل، بېخي به تږی نشي او په حقیقت کې ځینې اقوام به راته راشي، چې زه یې پېژنم او هغوی مې هم پېژني بیا نو زما او د هغوی ترمنځ بېلتون غورځي.))

نو ځکه موږ باید د قرآن او سنتو په رڼا کې تېر تاریخ ته له سره کتنه وکړو، چې کوم یې د پورته حدیث مصداق

واقع دي، چې تردې وروسته په "توحيدي ليد" خپلې عقيدې وارزوو.
دا راټولونه د اسلامي نړۍ د سترو عالمانو شننې دي، چې دې موخې ته د رسېدو لپاره راسره لاسنيوی کوي.

په احترام

**قاري عزت الله حنيف**

# د اصحابو عدالت

د خلفاواواهل بیتو په ښوونځیو کې د صحابي تعریف:
١_ د خلفاوو په ښوونځي کې د صحابي تعریف.
ابن حجر د خپل کتاب ((الا صابه)) په سریزه (د لومړي ټوک، لسم مخ) کې صحابي داسې تعریفوي:
((صحابي هغه دی، چې جناب نبي مکرم (ص) یې لیدلی وي، ایمان یې پرې راوړی او مسلمان مړ شوی وي، که له جناب نبي مکرم (ص) سره لیده کاته اوملګرتوب لږ وي یا ډېر، روایت یې ترې کړی وي یانه، ورسره غزاته تللی وي یا نه، داټول وګړي زموږ په تعریف کې: ((چا چې جناب سرور کاینات، حضرت محمد لیدلی وي)) ځایېږي ان که یوازې یو ځل یې جناب سرور کاینات، حضرت محمد لیدلی وي او ورسره ناست هم نه وي او یا یې د ړوندوالي له امله آنحضرت په خپلو سترګونه وي لیدلی.))
د همدې کتاب په شپاړسم مخ کې لیکي:
(([پورته وینا] داسې یو کچ او تول دی، چې ورباندې په پوهېدو د ډېروصحابیتوب څرګندېږي:

الف) هغوی [خلفاوو] یوازې اصحاب په سوبو کې په بولندویئ گومارل.

ب) پرلسم هجري کال، په مکه او طایف کې گردو خلکو اسلام راووړاوپه حجة الو داع کې له جناب نبي مکرم سره ول.

ج) د رسول مکرم ارواحنا فداه د عمر ترپایه د ((اوس)) او ((خزرج)) د ټبرونو ټولو وگړیو اسلام راووړ.

لکه چې ویل کېده: ((د ونې شجرې – د بیعت اصحاب)) او د ((چوترې (صفه) اصحاب))؛ یعنې له ټولوسره یې زیاتوالی راووړ او پر هغه مهال د ((رسول مکرم ارواحنا فداه د اصحابو)) نوم، بې له معناف الیه، د((صاحب)) او ((اصحاب)) په نامه نه کارول کېده؛ خودخلفاوودښوونځي لارویانوپه تدریج سره د ((رسول مکرم ارواحنا فداه اصحاب)) بې له معناف الیله ((صحابي)) او ((اصحاب)) ونومول. نوځکه دا مسلمینو نومونه او متشرعه اصطلاح ده.

پورته ځرگندونې، د اصحابو په تعریف کې د دواړو ښوونځیو لیدلورې وې.

## ۳_ دخلفاوو په ښوونځي کې د صحابي د پېژندو کچه

پر پورته څرگندونو سربېره، هغوی چې د خلفاوو په ښوونځي کې د ((اصحابو)) د ژوند پر حالاتو لگیا دي، د هغوی د پېژندو لپاره یې کچه او معیارهم ښوولی دی؛ لکه چې ابن حجر په الا صابه (۱۳\۱) کې وایي: ((موږ ته چې د صحابي د پېژندو لپاره (د احادیثو) له مشرانو لنډې ویناوې رارسېدلي – که څه هم نص پرې نشته – هغه روایت دی، چې ابن شیبه په خپل مصنف کې له نامردودې لارې راوړی، چې [خلفاوو] په سوبو کې یوازې اصحابو ته قومنداني ورکوله))

دلته، چې نامردودې لارې ته اشاره شوې، هغه روایت دی، چې طبري او ابن عساکر په خپلو اسنادو له سیف، له ابوعثمان، له خالد او عباده راوړی دی. په دې روایت کې وایي: ((بولندویان تل له اصحابو ول؛ خو داچې د قومندانۍ وړ به څوک پکې نه و))

طبري تاریخ: ۱\ ۲۱۵۱مخ، د اروپاچاپ.

طبري (تاريخ ١\٢٤٥٧- ٢٤٥٨) له سيفه په بل روايت کې وايي: خليفه حضرت عمر، چې په اصحابوکې د قومندانۍ ور څوک مونده؛ نو دا دنده به يې ورسپارله اوکه به يې ونه موند؛ نو((باحسان تابعينو)) ته يې سپارله او د راويانو له پوړې، چاهم د رياست اوقومندانۍ تمه نه کوله))

٤ـ پردې کچه نيوکه د دواړو روايانو مرجع، سيف بن عمر دی، چې د حديثپوهانو له نظره په حديث جوړونې او زندقه تورن دي [ سيد مرتفرعسکر ي، عبدالله بن سبا، لومړی ټوک، د سيف د حالاتو شرح] له راويانو يې، چې تېر شو، ددې کچې منځپانگه هم له تاريخي واقعيت سره اړخ نه لگوي؛ ځکه داغاني (١٤ټ: ١٥٧مخ ليکوال روايتوي اووايي: ((امروالقيس [شاعر] د حضرت عمر په لاس مسلمان شو- او مخکې تردې، چې ان يو رکعت لمونځ هم وکړی – په ولايت او قومندانۍ يې وټاکه.

همدارا علقمة بن علا ثة کلبي تر ارتداد وروسته قومندان شو، چې د حالاتو شرح يې په اغاني (١٥ټ،

٦٥مخ، دساسي چاپ) او اصابه (٢ټ: ٤٢٩- ٤٩٨ مخونه) کې راغلې.

علقمه د رسول مکرم ارواحنا فداه په زمانه کې ا سلام راوړ او ورسره يې ليده کاته هم وشول، ورپسې د حضرت ابوبکر په خلافت کې مرتد شو. خالدېې ورپسې ولېږه؛ خو وتښتېد.

ويل شوي، چې بيا راستون شو او اسلام يې راووړ او حضرت عمرورته د((حوران)) ولايت ورکړ.

## په دوارو ښوونځيو کې د اصحابو عدالت

### ١_ د خلفاوو د ښوونځي ليدلوری:

د خلفاوو ښوونځی ټول اصحاب عادل بولي او ديني ښوونې ترې اخلي.

د جرح و التعديل يو مخکښی ابو حاتم رازي (١) د خپل کتاب په سريزه کې وايي: ((د رسول مکرم ارواحنا فداه اصحاب؛ دوی د وحې او د کتاب د تنزيل شاهدان ول، پر تفسير او تاويل پوه شوي دي، خدای عزوجل د خپل استازي ملګرتوب ته غوره کړي ول، او خپله

مرسته او د دین پر پښو درول او د خپل حق ښکاره کول یې ورته سپارلي ول، هغوی یې د پېغمبر اصحاب غوره کړل او هغوی یې زموږ مشران او مخکښان کړل. جناب سرور کاینات، حضرت محمد ته چې د خدای له لوري څه رسېدلي، کوم سنت یې چې ایښی او تشریع کړی او هر واجب یا مستحب حکم یې چې کړی او چې څه یې امر و نهې یا منع و تادیب کړي، ټول یې زده کړل، یاد یې کړل او تطبیق یې کړل.ورپسې په دین کې فقیه شول او د خدای امر و نهې او مطلب یې د رسول مکرم ارواحنا فداه په حضور کې د کتاب د تفسیر او تاویل په مشاهدې سره او له هغه نه په زده کړې او استنبا ط پوه شول. خدای په ښه توګه شرافت ورواباښه او د مشرتوب د مقام پر ورکړې یې د هغوی درناوی وکړ او شک، دروغ، غلطي، ویاړ او نیمګړتیا یې ترې وځنډله او د امت عادلین یې ونومول او په خپل کتاب کې یې وویل: ﴿وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُواْ شُهَدَاء عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنتَ عَلَيْهَا إِلاَّ لِنَعْلَمَ مَن يَتَّبِعُ الرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَى عَقِبَيْهِ وَإِن كَانَتْ لَكَبِيرَةً إِلاَّ عَلَى الَّذِينَ هَدَى اللّهُ وَمَا كَانَ اللّهُ

لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ إِنَّ اللّهَ بِالنَّاسِ لَرَؤُوفٌ رَّحِيمٌ ((بقره/١٤٣)
او په دې توګه مو تاسې (چې قبله مو منځنۍ قبله ده) يو منځنی امت وګرځولئ، چې پر خلکو شاهدان وسئ او استازی پر تاسې شاهد وي او تاسې، چې پخوا کوم لوري ته مخ اړو، هغه مو يوازې ددې لپاره ټاکلی و، چې ځوك په پېغمبر پسې ځي او ځوك ترې شا اړوي، دا کار ډېر سخت و؛ خو نه هغوی ته چې خدای ورته لار ښوولې وه (او په دې هم پوه شئ، چې مخکېنۍ قبلې ته مو لمونځونه سم وو) او خدای هېڅکله ستاسې ايمان [لمو نځ] نه ضايع کوي؛ ځکه خدای پر خلکو ډېر زيات مهربان (او) لورونکی دی.))
او رسول مکرم ارواحنا فداه ((وسطاً)) په عادل تفسير کړی؛ نو اصحاب د امت عادلين، د هدايت مخکښان، د دين حجتونه او د کتاب او سنتو ناقلان دي. پرلار تګ يې د خدای ښه ايسي؛ لکه چې وايي:
((وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءتْ مَصِيراً (نساء/١١٥) او چا ته چې سمه لار ځرګنده شوه او بيا له پېغمبر سره په مخالفت لاس پورې کړي او د

مؤمنانو له لارې پرته پر بله ولاړ شي(؛ نو) موږ يې پر هماغه لار بيايو، چې پرې روان دی او هغه به دوزخ ته ننباسو او دا د ورتلو ناوړه ځای دی))

په رواياتوکې مو ډېر کتلي، چې جناب نبي مكرم خپل اصحاب نورو ته د خپلواحاديثو د تبليغ او رسولو لپاره هڅولي او ورته يې ويلي: ((خدای دې هغه خوشحاله کړي، چې زما خبرې واوري، يادې يې کړي او وساتي، چې نورو ته يې ورسوي.))

رسول مكرم ارواحنا فداه په يوې خطبې کې وويل: ((بايد ستاسې شاهدان [زما خبره] غايبانوته ورسوي)) او زياته يې کړه: ((زماله لوري تبليغ وکړئ، که څه يو آيت وي او احاديث مې څرګند کړئ، چې څه پړه درباندې نشته))

تر هغه وروسته، اصحاب (رض) په شاوخوا، ښارونو او پولو کې خپاره واره شول، په جګړو ونښتل، سيمې يې په ولکې کې کړې، ولسوالان شول او په پرېکړو بوخت شول هر يو په خپل هستوګنځي کې چې څه يې له جناب سرور کاينات، حضرت محمد څخه زده کړي ول، خپاره کړل او له رسول مكرم ارواحنا فداه څخه د

زده کړو له مخې یې فتواوې ورکولې او پوښتنې یې ځوابولې.

هغوی تر مرګه خلکو ته ځان په ښه نیت وقف کړ، چې فرایض، احکام، سنن، حلال اوحرام و رزده کړي، هغوی ټول دې خدای وبښي))

ابن عبدالبر د خپل کتاب ((الاستیعاب)) (۲) په سریزه کې وایي: ((د ټولواصحابو عدالت ثابت دی))، ورپسې د مؤمنانو اصحابو په باب آیتونه او راویتونه راوړي.

ابن حجر د خپل کتاب ((الاصابه)) د درېیم څپرکي په سریزه کې د اصحابو د حالاتوپه شرح او د عدالت په اړه یې وایي: ((اهل سنت یوه خوله دي، چې ټول اصحاب عادل دي؛ خو یوازې ډېر لږ شمېر نوښتګر یې مخالف دي))

ابن حجرله ابوزرعه روایتوي، چې ویلي یې دي: ((څوک چې د رسول مکرم ارواحنا فداه پر اصحابو ټکې او نیوکې کوي، پوه شه ((زندیق)) دی؛ ځکه رسول مکرم ارواحنا فداه حق دی، قرآن کریم حق دی، چې یې څه راوړي حق دي، داټول یوازې اصحابورارسولي دي او دا ډله، چې زموږ پر شاهدانو

نیوکې کوي، غواړي ((کتاب وسنت)) تباه کړي؛ نو دوی خپله د نیوکو وړ زندیقان دي.

(۱) ابو محمد عبدالرحمن بن ابي حاتم رازي، ۳۲۷س مړ، د ((تقدمة المعرفة لکتاب الجرح والتعدیل)) د کتاب لیکوال، چې موږ پورته مطلب د همدې کتاب له (۷-۹) مخونه (د حیدرآباد د ۱۳۷۱س له چاپه) راخستی دی.

(۲) الاستیعاب فی اسماء الاصحاب؛ حافظ محدث ابوعمر یوسف عبدالله بن محمد بن عبدالبرنمري قرطبي مالکي کتاب دی (۳۶۳- ٤٦۳مړ) او موږ دا عبارت د الاصابه له لمنکیه راخستی دی.

(۳) الاصابه فی تمینیزالصحابة، د حافظ شهاب الدین احمد بن علي بن محمد کناني عسقلاني شافعي په ابن حجر مشهور(۷۷۳-۸۵۳مړ) د المکتبة التجاریة، ۱۳۵۸س، لومړی ټوک، ۱۷-۲۲مخونه.

ابوزرعه، عبدالله بن عبدالکریم بن یزید. ابن حجر په ((تقریب التهذیت)) (۵۳٦|۲) کتاب کې (۱٤۷۹س چاپ) د ابوزرعه په اړه وایي: دا د راویانو له یوولسمې پوړۍ دی، امام او حافظ او ثقه دی، پر۲٤٦س ومړ،

مسلم، ترمذي نسايي او ابن ماجه (د صحاحو ليكوالو) ترې روايتونه راخستي دي.

## ۲_ د اصحابو د عدالت په اړه د اهل بيتو د ښوونځي ليد لورى:

داهل بيتو ښوونځى د قرآن كريم په لاروۍ وايي، چې په اصحابوكې داسې مؤمنان دي، چې خداى په قرآن كريم كې ستايلي:
((لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا (فتح/۱۸) په رښتيا، خداى له مؤمنانو هغه وخت خوشحاله شو، چې تر ونې لاندې يې درسره بيعت وكړ؛ نو (خداى) پوه شو، چې په زړونوكې يې څه دي؛ نو ځكه يې پرې ډاډ راښكته كړ او په بدل كې يې ورته "نژدې بريا" په برخه كړه؛))

داستانه یوازې تر ونې لاندې حاضرو ناستو مؤمنوپه اړه ده، چې بیعت یې وکړ او حاضر منافقین؛ لکه عبدالله بن ابی او نور پکې نه شمېرل کېږي.

د شجرې د بیعت (رضوان) په اړه واقدي، مغازي. مقریزي.

د اصحابو په منځ کې داسې منافقین وېني، چې خدای په ډېرو آیتونوکې هغوی غندلي لکه:

((وَمِمَّنْ حَوْلَكُم مِّنَ الأَعْرَابِ مُنَافِقُونَ وَمِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ مَرَدُواْ عَلَى النِّفَاقِ لاَ تَعْلَمُهُمْ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَى عَذَابٍ عَظِيمٍ (توبه/۱۰۱) او په چاپېریال کې دې ځینې بانډیځیان عرب منافقین دي او(همداراز) د مدینې په اوسېدونکیو کې هم منافقان شته، چې ته یې نه پېژنې؛ خو موږ یې پېژنو، ژر به ورته دوه ځل سزا ورکړو(په دنیا کې د رسوایۍ سزا او د مړیني پر وخت سزا)؛ بیا به (په قیامت کې) د ستر عذاب پر لور راګرځول کېږي!))

هو! په اصحابوکې داسې وګړي ول، چې د رسول مکرم ارواحنا فداه پر حریم کې تور ورتاړه، د نور سورت له (۱۱-۱۷) آیتونه دافک داستان بیا نوي.

((إِنَّ الَّذِينَ جَاؤُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنكُمْ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَّكُم بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُم مَّا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ وَالَّذِي تَوَلَّى كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ. لَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا هَذَا إِفْكٌ مُّبِينٌ.لَوْلَا جَاؤُوا عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاء فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاء فَأُوْلَئِكَ عِندَ اللَّهِ هُمُ الْكَاذِبُونَ.وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِي مَا أَفَضْتُمْ فِيهِ عَذَابٌ عَظِيمٌ.إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُم مَّا لَيْسَ لَكُم بِهِ عِلْمٌ وَتَحْسَبُونَهُ هَيِّنًا وَهُوَ عِندَ اللَّهِ عَظِيمٌ.وَلَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُم مَّا يَكُونُ لَنَا أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَذَا سُبْحَانَكَ هَذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ.يَعِظُكُمُ اللَّهُ أَن تَعُودُوا لِمِثْلِهِ أَبَدًا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ(نور/١١-١٧) په واقع کې په تاسې کې يوې (منظمې چلمارې) ډلې دا غټ دروغ جوړکړي دي (؛ خو) گومان مه کوئ، چې دا پېښه درته بده ده؛ بلکې [په نهايت کې] په خير مو ده، چا چې په دې کې څومره برخه اخستې؛ نو هومره گناه يې گټلې ده او له هغوی چې چاددې تور ډېره برخه پر غاړه اخستې؛ نو هغه ته ستر عذاب دی! چې کله يې دا(تور) واورېد؛ نو ولې ايمانوالو نارينه وو او ښځو پر خپلو ځانونو ښه

گومان ونه کړ او ویې نه ویل: "دا ښکاره دروغ دي؟!" ولې هغوی (د خپل تور د اثبات لپاره) څلور شاهدان رانه وستل؟!اوس یې، چې شاهدان نه دي راوستي؛ نو هماغوی د خدای پر وړاندې دروغجن دي او که پر تاسې په دنیا او آخرت کې د خدای فضل او مهرباني نه وای؛ نو ددې کړې ګناه له امله به درته سخت عذاب در رسېدلی وای!. (دریادکړه) چې کله تاسې هغه (ستر دروغ) خوله پر خوله کول او پخپلو خولو مو داسې څه ویل، چې ترې ناخبره وئ او هغه مو کوچني ګڼل، حال داچې د خدای پر وړاندې ستره (خبره) وه!

ولې تاسې ددې (تور) په اورېدو ونه ویل: ((له موږ سره نه ښایي، چې په دې (موضوع)کې خبرې وکړو. خدایه!ته پاك یې، دا خو ستر تور دی؟!)) خدای درته نصیحت کوي، چې که مؤمنان یاست بیا هېڅکله دغسې کار مه کوئ.))

په اصحابوکې داسې کسان ول، چې خدای یې په اړه وایي:

((وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا قُلْ مَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ

(جمعه/۱۱) او چې کله هغوی راکړه ورکړه یا لوبه وويني (؛ نو) وردرومي او تا پر خپل حال ولاړ پرېږدي، ووايه: ((څه چې له خدای سره دي، تر ننداريې او راکړې ورکړې غوره دي او خدای ډېر غوره روزي ورکوونکی دی.))))

دا پېښه هغه مهال وه، چې رسول مکرم ارواحنا فداه په خپل جومات کې د جمعې د ورځې خطبه ويله.

په اصحابو داسې وګړي هم ول، چې غوښتل يې رسول مکرم ارواحنا فداه له تبوک (۱) يا حجة الوداع (۲) نه په راستنېدوکې په پټه ووژني.

له رسول مکرم ارواحنا فداه سره د صحبت او ملګرتوب شرافت له هغه مبارک سره د واده له شرافته څه لوړ نه دی؛ ځکه له هغه سره يې د مېرمنو مصاحبت او ملګرتوب، د ملګرتوب او هم صحبتۍ له خورا لوړو درجو دی؛ خوسره له دې خدای ورته وايي:

((يَا نِسَاء النَّبِيِّ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُضَاعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ وَكَانَ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيراً .وَمَن يَقْنُتْ مِنكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِ وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُّؤْتِهَا أَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ وَأَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيمًا . يَا نِسَاء النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ

النِّسَاء إِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلاً مَّعْرُوفًا (احزاب/٣-٣٢) د پيغمبرمېرمنو! له تاسې چې هره يوه ښكاره بدكار وكړي (؛ نو) هغې ته به دوه گرايه عذاب وركړاى شي او دا (كار) خداى ته اسان دى. او له تاسې، چې څوك د خداى او د هغه د پيغمبر امر ته په عاجزۍ غاړه كېږدي او ښه (چارې) وكړي(؛ نو) موږ به ورته دوه گرايه بدله وركړو او ارزښتمنه روزي مو ورته چمتوكړې ده. د پيغمبر مېرمنو! تاسې هېڅ د(نورو) ښځو په څېر نه ياست (او غوره او خورا مسوولې يئ)؛ كه ځان ساتئ (پرهېزگاري كوئ)؛ نو په نرمۍ (او ناز) خبرې مه كوئ، چې پر زړه ناروغ تن درته تمه پيداشي او سمې روغې او سنجول شوې خبرې كوئ.))

((إِن تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا وَإِن تَظَاهَرَا عَلَيْهِ فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ مَوْلَاهُ وَجِبْرِيلُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمَلَائِكَةُ بَعْدَ ذَلِكَ ظَهِيرٌ (تحريم/٤) كه تاسې دواړه (د پيغمبر مېرمنې له خپل كاره) توبه وباسئ (ستاسې په گټه ده؛ ځكه په دې چار كې د خداى او د هغه د پيغمبر له اطاعته) مو زړونه كاږه شوي دي او كه دواړه د پيغمبر پر

خلاف لاس یو کړئ (؛ نو زیان ورته نشئ رسولای)؛ ځکه خدای یې پخپله مرستندوی دی او تر هغه وروسته یې جبرائیل او د مؤمنانو صالح او پرښتې ملاتړې دي.))
((ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلاً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا اِمْرَأَةَ نُوحٍ وَاِمْرَأَةَ لُوطٍ كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ فَخَانَتَاهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا مِنَ اللَّه شَيْئًا وَقِيلَ ادْخُلاَ النَّارَ مَعَ الدَّاخِلِينَ. وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلاً لِّلَّذِينَ آمَنُوا اِمْرَأَةَ فِرْعَوْنَ إِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِي عِندَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِن فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهِ وَنَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ.وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرَانَ الَّتِي أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَاتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِ وَكَانَتْ مِنَ الْقَانِتِينَ (تحریم/۱۰-۱۲) خدای کافرانو ته د نوح ښځه او د لوط ښځه بېلگه کړې (چې) دا دواړه زما له صالحو بندگانو د دوو بندگانو تر (پالنې او نکاح) لاندې وې؛ خو له هغو دواړو سره یې خیانت وکړ؛ نو له دې دواړو (پیغمبرانو) سره اړیکو یې (د الهي عذاب په مقابل کې) ورته څه گټه و نه رسوله او ورته وویل شول: ((له نورو ننوتونکیو (دوزخیانو) سره اور ته ننوځئ. او خدای مؤمنانو ته د فرعون د مېرمنې بېلگه راوړي، چې [د سختو کړاوونو د زغملو پر مهال] یې

وویل: ((پالونکیه! ما ته له خپل اړخه په جنت کې کور جوړ کړه او ما د فرعون له شر او کړنو یې خلاصه کړه او (هم) مې د ظالمانو له ډلې وژغوره! او (همداراز) د عمران لور مریم [بېلگه راوړي]، چې پاکلمنې وه؛ نو موږ پکې له خپل روح وپوکه او هغې د خپل پالونکي خبر او کتابونه رښتیني وگڼل او له منونکیو وه.))

رسول مکرم ارواحنا فداه د قیامت پرورځ د څینو اصحابو حال داسې څرگندوي: ((دقیامت پر ورځ زما د امت یو شمېر وگړي ډگر ته راوباسې او جهنم ته یې شړي! زه وایم: پالونکیه! زما اصحاب دي! ویل کیږي: ته نه پوهیږې، چې ستا تر تگ وروسته یې څه بدعتونه کېښوول: نوزه هم هماغه وایم، چې د خدای صالح بنده [عیسی د مریمې زوی] ویل: "ان هولاه لم یزالو مرتدین علی اعقابهم منذفارقتهم"

نو ویل کیږي: څه وخت، چې له دې ډلې جلاشوې، له دینه یې مخ واړواو خپلو تېرو ته وگرځېدل.))

صحیح بخاري، د مائدې سورت تفسیر، باب: یاایهاالرسول بلغ انزل الیک او د انبیاء سورت تفسیر.

ترمذي، د قیامت د ځانګړنو ابواب، د حشر په اړه روایاتو باب اود طه سورت تفسیر.

په بل روایت کې راغلي:

((له اصحابو یې یو شمېر خلک کوثر حوض ته ما ته راولي، چې همداچې و مې پېژندل له ما یې جلاکوي! وایم: زما اصحاب! وایي: ته نه پوهېږې، چې ستا تر تلو وروسته یې څه بدعتونه کېښوول.))

صحیح بخاري، کتاب: دعوات، باب: فی الحوض. ابن ماجه، کتاب: مناسک.دامام احمد حنبل مسند (۱\۴۵۳، ۳\۲۸، ۵).

او په صحیح مسلم (کتاب: فضایل، باب: اثبات حوض، ۴۰حدیث) دا روایت دی، چې: ((له اصحابو مې یو شمېر سړي، پر کوثر حوض راته راولي، چې راتلو کې یې وینم، چې له ما یې بېلوي! وایم: پالونکیه زما اصحاب!راته ویل کېږي: ته نه پوهېږې، چې ستاتر تلو وروسته یې څه بدعتونه کېښوول.))

# د مؤمن او منافق د پېژندوکچه

داچې د رسول مکرم ارواحنا فداه د اصحابو په منځ کې داسې منافقان ول، چې بې له خدایه بل چا نه پېژندل؛ نو له همدې امله رسول مکرم ارواحنا فداه ویلي: ((علي، د مؤمن ښه ایسي او د منافق بد ایسي)).

دا حدیث امام علي (ک) (۱) ام المؤمنین ام سلمة (۲) عبدالله بن عباس (۳) ابوذر غفاري(٤) انس بن مالک (۵) او عمران بن حصین (٦) روایت کړی او د رسول مکرم ارواحنا فداه په پیرکې شایع اومشهور حدیث و.

ابوذر(رض) وایي: ((منافقین مو په دې پېژندل، چې خدای او استازی یې په دروغوګڼل، له فرضي لمونځونويې اوړې سپکولې او له علي بن ابیطالب سره دښمنان ول)) (۷) ابوسعید حذري (رض) وایي: د رسول مکرم ارواحنا فداه په پېر کې موږ(انصارو) منافقین په دې پېژندل، چې له علي بن ابطالب سره یې کینه درلوده. (۸)

عبدالله بن عباس وايي: درسول مکرم ارواحنا فداه په زمانه کې منافقين مو له علي بن ابطالب سره په دښمنۍ پېژندل (۹).

جا بر بن عبدالله انصاري وايي: منافقين مو، له علي بن ابي طالب سره په دښمنۍ پېژندل؛ ځکه جناب سرور کاينات، حضرت محمد د علي په اړه ويلي وو: خدايه! د علي دوست، دوست وګڼه او د ښمن يې دښمن وبوله))

(۱۰) نوله همدې امله، د اهل بيتود ښوونځي لارويان د ديني لارښوونو په اخستو کې د هغو اصحابو په باب له احتياطه کار اخلي، چې له علي (ک) سره يې دښمني کړې؛ ځکه ډارېږي، چې هغه صحابي له هغو منافقينو ځنې وي، چې بې له خدايه يې بل څوک نه پېژني.

د "اصحابو عدالت" يوه خورا مهمه مساله ده، دې بحث ته تر ننووتو وړومبی څو ټکيو ته خپل پام اړوو:

لومړی: ټولو ته څرگنده ده، چې په اصحابو کې داسې وگړي وو، چې له ستر مقام څخه برخمن وو او له پيغبمر اکرم (صلي الله عليه واله) سره يې د صحبت حق په بشپړه توگه ادا کړی او د عمر تر وروستيو شېبو پورې همغسې وفادار پاتې شوي دي، چې دوی ته ټول مسلمانان پر درناوي قايل دي او له ځانگړي ستاينې برخمن دي او ډېرو د حضرت رسول (ص) له مبارك حضور څخه فيض اخستی او په غزاگانو کې شهيدان شوي دي او يو شمېر يې په دې ليکنه کې خبره دا ده، چې په ټول اصحاب له دې ستاينې برخمن دي او يا دا چې دا پېښه ټوليزه نه وه؟

دويم: د دې مسالې شننه مهمې پايلې لري، چې يوه يې د احاديثو په اعتبار پورې تېنگې اړيکې لري؛ ځکه ډېر احاديث له داسې اصحابو روايت شوي، چې د عدالت صفت او ځانگړنه پرې نه تطبيقېږي؛ نو که چېرې په عمومي توگه زموږ تر بحث لاندې موضوع سمه وي؛ نو

د هغو احاديثو حجيت له منځه ځي؛ نو ځکه په دې باب څېړنه له ځانګړي اهميته برخمنه ده.

## د اهل سنتو د مشهورو امامانو له نظره د ټولو اصحابو عدالت

ابن عبدالبر د احاديثو او رجالو يو مشهور امام په الاستيعاب (۲/۱، د مصر د دار النهفه الطبع دانش چاپ) کتاب کې وايي:

" د خدای تعالی او د هغه رسول ته ثنا، د ټولو اصحابو عدالت ثابت دی... او بل عادل به څوك وي، چې خدای تعالی هغه د خپل پيغمبر د صحبت، نصرت او ملاتړۍ لپاره غوره کړی وي، چې تر دې بشپړه او ښه تزکيه او تعديل چېرې هم نشته. "

ذهبي د احاديثو او رجالو مشهور امام په ميزان الاعتدال (۲/۱ د دار حيا الکتب العربيه چاپ) کې وايي:

" پدې کتاب (ميزان الاعتدل) کې د اصحابو نومونه، د هغوی د عظمت او ستريا امله نه راوړم؛ ځکه (که په

روایت شوي (مروري) حدیث کې له هغوی نه ضعف وي) ضعف یواځې د هغوی دی، چې له اصحابو نه یې روایت کړی دي.

ابن حجر (الاصابه فی تمییز الصحابه ٦/١، دار الکتب با لاوهر چاپ) وایي:

" اهل سنت یوه خوله دي، چې ټول اصحاب عادل دي او له دې مسالې سره ډېر لږ شمېر بدعتیان (چې وینا یې بې ارزښته ده) مخالف دي... "

بیاورپسې د خطیب وینا را راخلي، چې اصحاب ځکه عادل دي، چې عادل خدای، د هغوی له پاکۍ خبر کړي یو بیا د قرآن آیتونه را اخلي او وایي: دا ټول د دې باعث کېږي چې انسان د هغوی پر عدالت یقین پیدا کړي او د پروردګار پر عدالت سربېره له هغوی یو هم د بل د عدالت لپاره اړه نه لري.

امدي (الاحکام فی اصول الاحکام ٣٢/١، دارالکتب العلمیه بیروت چاپ) وایي:

" د اهل سنتو ټول امامان د اصحابو پر عدالت یوه خوله دي.

د اصحابو د عدالت پرېکړه خو پر هغو راويانو تطبيقوو، چې تر هغوی وروسته راغلي او روايت ترې کوي او که نه د اصحابو د عدالت په باب خو څه خبره نه شته.

## صحابي څوك دی؟

ښايي ډېر ښه تعريف، چې د اهل سنتو څېړونکيو د "صحابی" لپاره کړی وي، د ابن حجر (الاصابه ٤/١ دارالکتب العلميه - بيروت چاپ) تعريف وي:
" صحابی هغه دی، چې د ايمان په حال کې يې له نبي مکرم او معظم سره ملاقات او ليده کاته شوي وي او مسلمان له نړۍ مړ شوی وي، که دا مجالست او ليده کاته يې اوږده وو يا لنډ و له نبي مکرم او معظم نه يې روايت کړی وي يا نه، په غزا کې يې برخه اخستې وي يا نه او اصلاً له رسول اکرم سره ناسته کړې وي او يا دا چې يوازې هغه مبارك لېدلی وي... "
او داچې په پورته تعريف کې راغلي، چې مسلمان له نړۍ تللی وي، تر څو د صحابي اطلاق پرې وشي؛ دا ځکه که څوك مؤمن و او نبي مکرم او معظم سره يې

ملاقات کړی وي او بیا له اسلامه ګرځېدلی او مرتد شوی وي؛ نو بیا د اصحابو د عدالت په باب د برهان له شرحې د مازري خبرې را اخلي: " موږ چې وایو اصحاب عادل دي؛ نو مطلب ټول هغه کسان نه دي، چې نبي مکرم او معظم یې یوه ورځ یا لږ وخت لپاره لیدلی او یا یې د کوم هدف لپاره ورسره ناسته لرله او بیا یې ترې راستون شوی؛ بلکې هدف مو هغوی دي، چې د نبي مکرم او معظم ملازم او ملاتړي وو، هغه رڼا چې پرې راکښوتې وه، د هغې یې لاروي کړې وي؛ نو همدوی ژغورل شوي دي. (د پورته کتاب ۷ مخ)

دا څرګنده نه ده، چې د مازري دا خبره د ټولو اصحابو د عدالت لپاره ځانګړې شوې او یا دا چې د " صحابي" د مفهوم لپاره وه؟

دا خبره چې د هر څه لپاره وي؛ خو پایله یې داده، چې دې ستر عالم ډېر وګړي، چې په اصحابو کې ګڼل کېږي، پر هغوی د عدالت پرېکړه نه کوي او د هغه د وینا له مخې کوم تعریف یې چې باید په یو صحابي تطبیق شي، چې بیا پرې د عدالت پرېکړه وشي.

یادونه: ذهبي (سید اعلام النبلا ۱۰٤/۲ - رقم ٦٤ (موسسه الرساله، الطبعه السابعه چاپ) وایي:

" مازري د خپلې زمانې شیخ، امام علامه، د علومو او فنونو دریاب، متکلم.) په فقه او اجتهاد کې خورا ځیرك او د دقت نظر خاوند و، په خپل وخت کې له هغه پر ته بل مالکیه او فقیه نه و.

## اصحاب د کتاب او سنتو له نظره

د قرآن مجید ډېر آیتونه را ښیي، چې د نبي مکرم او معظم د زمانې ځینې مؤمنانو اخلاقي او عملی نیمګړتیاوې لرلې او احیاناً له ځینو شرعي احکامو یې هم سر غړاوه؛ لکه:

له جهاده سر غړونه:

((یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُواْ مَا لَکُمْ إِذَا قِیلَ لَکُمُ انفِرُواْ فِي سَبِیلِ اللّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَی الأَرْضِ أَرَضِیتُم بِالْحَیَاةِ الدُّنْیَا مِنَ الآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَیَاةِ الدُّنْیَا فِي الآخِرَةِ إِلاَّ قَلِیلٌ. إِلاَّ تَنفِرُواْ یُعَذِّبْکُمْ عَذَابًا أَلِیمًا وَیَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَیْرَکُمْ وَلاَ تَضُرُّوهُ شَیْئًا وَاللّهُ عَلَی کُلِّ شَيْءٍ قَدِیرٌ(توبه/ ۳۸-۳۹) مؤمنانو !څه

درباندې شوي دي، چې کله درته وويل شي: ((د خدای په لار کې (غزا ته) ووځئ))؛ نو پر ځمکه درانه کېناستئ؟! (او ځانونه مو سست کړل) ايا د آخرت پر ځای مو دنيوي ژوند خوښ کړی دی؟! حال دا چې له دنيوي ژونده گټنه د آخرت په پرتله ډېره لږه ده. که (د جهاد د ډگر پر لور) و نه خوځېږئ (؛ نو خدای) به دردناکه سزا درکړي او ستاسې پر ځای به کوم بل قوم راولي او هغه ته هېڅ زيان نشئ رسولای او خدای پر هرڅه برلاس دی.))

دا آيت ښيي، چې د نبي اکرم د زمانې ډېرو مؤمنانو له هغه مبارك سره له جگړې ډډه کوله، چې د غسې رټل شوي دي. د " اذ قيل لکم"، "اتقروا فی سبيل الله"، "اثاقلتم" تعبيرونه را ښيي، چې دا پېښه يواځې يو ځل نه وه؛ بلکې تل تکرارېدله.

له اتفاقه ډډه کول:

((هَاأَنتُمْ هَؤُلَاء تُدْعَوْنَ لِتُنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَمِنكُم مَّن يَبْخَلُ وَمَن يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَن نَّفْسِهِ وَاللَّهُ الْغَنِيُّ وَأَنتُمُ الْفُقَرَاء وَإِن تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُمْ (محمد/۳۸ هو! تاسې هماغه خلک ياست،

چې د خدای په لار کې د مال لګولو ته رابلل کېږئ؛ نو له تاسې څوك كنجوسي كوي او څوك چې كنجوسي كوي؛ نو په حقيقت كې له ځان سره به يې كړې وي او خدای غني دی او تاسې اړمن ياست اوكه مخ واړوئ (؛ نوخدای) به ستاسې پرځای بل قوم راولي، چې هغوی به بيا ستاسې په څېر نه وي (او په خلاص مټ به د خدای په لار كې لګښت كوي).))

د جناب نبي مكرم له خطبې پاڅېدل:

((وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا قُلْ مَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ (جمعه/۱۱)او چې كله هغوی راكړه وركړه يا لوبه ووينې (؛ نو) وردرومي او تا پر خپل حال ولاړ پرېږدي، ووايه: ((څه چې له خدای سره دي، تر ننداريې او راكړې وركړې غوره دي او خدای ډېر غوره روزي وركوونكی دی.))))

صحيح بخاري (۲۰۲/۳ - كتاب التغسير باب الجمعه دارالمغرفه بيروت چاپ) " له حضرت جابر بن عبدالله... روايت دی، چې ويلي يې دي: د جمعې پر ورځ كاروان راغی او موږ له نبي مكرم او معظم سره وو،

له (۱۲) تنو پرته. نورو ټولو پېغمبر پرېښود او د کاروان خواته لاړل؛ نو بیا خدای پاك دا آیت.

د افك پېښه:

((إِنَّ الَّذِينَ جَاؤُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنكُمْ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَّكُم بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُم مَّا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ وَالَّذِي تَوَلَّى كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ (نور/۱۱)په واقع کې په تاسې کې یوې (منظمې چلمارې) ډلې دا غټ دروغ جوړکړي دي (؛ خو) گومان مه کوئ، چې دا پېښه درته بده ده؛ بلکې [په نهایت کې] په خیر مو ده، چا چې په دې کې څومره برخه اخستې؛ نو هومره گناه یې گټلې ده او له هغوی چې چا ددې تور ډېره برخه پر غاړه اخستې؛ نو هغه ته ستر عذاب دی!))

(((لَوْلَا جَاؤُوا عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاء فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاء فَأُوْلَئِكَ عِندَ اللَّهِ هُمُ الْكَاذِبُونَ نور/۱۳)ولې هغوی (د خپل تور د اثبات لپاره) څلور شاهدان رانه وستل؟!اوس یې، چې شاهدان نه دي راوستي؛ نو هماغوی د خدای پر وړاندې دروغجن دي.))

دا آیت ښيي، یوه ډله مسلمانان چې له نبي مکرم او معظم سره وو د افك په پېښه کې (هغه ستر تور او تهمت) یې لاس درلود او د خدای په نزد یې دروغجن معرفي کوي، چې له هغوی نه (اهل سنتو د حدیثي او تفسیري کتابونو ته حواله) مسطح بن اثاثه او حسان بن ثابت وو:

ابن اثیر په اسدالغابه (٣٥٥/٤ داراحیا التراث العزی - بیروت چاپ) کې وایي:

" مسطح په بدر غزا کې و او په عین حال کې له هغوی نه و، چې پر عایشې بي بي پسې یې تور تړلی و؛ تو له همدې امله جناب نبي مکرم پر درو او کوړو وواهه. "

ولید بن عقبه:

((وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا فَإِن بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ اللَّهِ فَإِن فَاءتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ (حجرات/٩)او که له مؤمنانو دوه ډلې پخپلو کې په جنګ شي؛ نو ترمنځ یې سوله وکړئ؛ نوکه له هغو یوه ډله پر بلې تېری وکړي؛ نو له تېري کوونکې سره تر هغو وجنګېږئ، چې د خدای

حکم ته راوګرځي؛ نوکه راوګرځېد(او د سولې او پخلاینې لار یې ونیوه)؛ نو په منځ کې یې په عدل سوله وکړئ او انصاف وکړئ؛ (ځکه) چې خدای انصاف کوونکي خوښوي.))

د اهل سنتو مفسرینو دا آیت د ولید بن عقبه په باب ګڼلی دی، چې نبي مکرم او معظم هغه د بني مصطلق قبیلې ته د صدقاتو په راټولو پسې لیږلی و، په دې باب د طبري تفسیر، الدر المنثور، ابن کثیر، مجمع البیان، تفسیر التبیان وګورئ.

ابن عبدالبر (الاستیعاب ١٥٥٢/٤) لیکي:

تر هغه چې زه پوهېږم په قرآني مفهوم د اهل علم تر منځ په دې باب اختلاف نشته، چې دا آیت د ولید بن عقبه په باب نازل شوی دی او څرګنده ده، چې د فاسق تعبیر او د آیت شان نزول په پام سره "نص" دي او پر ولید یې تطبیق بیخي غوڅ او قطعي دي.

باید ووایو چې د امام احمد حنبل په مسند (٣٢/٤، دارصادر- بیروت چاپ) کې په خپله ولید بن عقبه نه یو روایت نقل شوی چې د مکې تر فتحې وروسته کوچنیان به یې نبي مکرم او معظم ته راوستل او هغه

مبارك به د هغوی پر سرونو لاس کاږه او دعا يې ورته کوله. زه چې وړوکی وم، او ورته يې يووړم؛ نو زما په سر چې پر يو ډول عطر وو (خلوق) غوړ شوي وو؛ نو حضرت (ص) زمام پر سر لاس را نه ښکود.

دا حديث که سمه وي؛ نو د تېر آيت له شان نزول سره اړخ نه نلګوي؛ ځکه په هغو احاديثو کې راغلي وو، چې جناب نبي مکرم وليد، بني مصطلق تهبر ته د زکات را ټولو لپاره لېږلی و، چې ددې کار جوګه وي، په داسې حال کې چې له دې حديثه داسې پوهېدای شو، چې دا به په هغو کلنو کې وړوکی و.

ځواب دا دی، چې دا حديث د حديثپوهانو او رجال پوهانو له نظره مردود او بې اعتباره دی؛ ځکه:

١- د حديث سند پخپله وليد ته رسي، چې په دروغو تورن دی.

٢- عبدالله ابو موسی همداني له ده نه روايت کړی، چې د ابن عبدالبر (الاستيعاب ١٥٥٣/٤ الطباعه وانثر والتوزيع القاهره) او ابن حجر عسقلاني (تهذيب التهذيب ٨٠/٦ دار القکر)، چې له هغه نه راخستی؛ نو هغه يې مجهول ښوولی دی.

۳- هغه احادیث چې په شان نزول کې یې راغلي، سم او له بشپړ اعتباره برخمن دي؛ لکه چې ابن عبدالبر وایي: ناشونې نه ده، چې جناب سرور کاینات، حضرت محمد څوك د صدقاتو د راټولو لپاره لیږلی وي، هغه به د مکې تر فتحه کې کوچنی وي".

علي او ولید بن عقبه:

((أَفَمَن كَانَ مُؤْمِنًا كَمَن كَانَ فَاسِقًا لَّا يَسْتَوُونَ (سجده /۱۸) ایا څوك چې مؤمن وي، د سرغړاند په څېر کېدای شي؟(نه هېڅکله) برابر نه دي.))

د آیت د مفسرینو په وینا د حضرت علي او ولید بن عقبه په باب نازل شوی دی. په دې باب د طبري جامع البیان، الدرالمنثور تفسیر البرهان، تفسیر نورالثقلین ته مراجعه وکړئ. د دې آیت شان نزول ته په پام سره ولید بن عقبه فاسق دی.

ذهبي په سید اللام النبلا (۴۱۵/۳ موٌسسه الرساله چاپ) کې وایي:

" ابن ابی لیلی له حکم له سعید بن جبیر له حضرت ابن عباس نه روایت کوي، چې ولید بن عقبه د ویاړنې په توگه حضرت علي ته وویل: " زه تر تا غوڅه توره او

خوله وره ژبه لرم. حضرت علي ورته په ځواب کې وویل: چپ شه، ته فاسق يې؛ نو بیا دا آیت (افمن کان مؤمنا کمن....) نازل شو ".

ذهبی د حدیث تر نقلولو وروسته وايي: د دې حدیث اسناد قوی دي.

له حديثي او تاريخي کتابونو نه معلومېږي، چې ولید ډېر شراب څښل او په " شراب الخمر ډېر شراب خور" مشهور و، وايي چې یو ځل يې په مستۍ کې د سهار لمانځه څلور رکعته وکړل او تر لمانځه وروسته يې وویل: غواړې تر دې زيات هم وکړم؟

ابن عبدالبر په الاستيعاب (١٥٥٢/٤) کې ليکي:

په مستۍ کې لمونځ کول او چې تر لمانځه وروسته يې ويلي، چې له څلورو رکعتونو زيات هم وکړم؛ نو دا ډېر مشهور دی او موثقو راويانو روايت کړی دي. "

تر پیغمبر وروسته اوښتون:

((وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىَ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ اللّهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِي اللّهُ الشَّاكِرِينَ (آل عمران/١٤٤)

او محمد(ص) يوازې د خدای استازی دی او تر هغه مخکې هم (نور) استازي وو؛ نو که (هغه) ومري يا ووژل شي؛ تاسې پر شا گرځئ؟ (او اسلام پرېږدئ، جاهليت او کفر ته ورستنېږئ؟!) او څوك چې (له خپلې عقيدې) واوړي (؛ نو پوه دې شي، چې) خدای ته هېڅ زيان نشي رسولای او خدای به ډېر ژر شکر ايستونکيو (او د زغم خاوندانو) ته بدله ورکړي.))

په " أَفَإِن مَّاتَ " کې استفهام خدای تعالی ته په حقيقي معنا نه دی؛ بلکې د انکار لپاره دی. داسې، چې کېدونکی او پېښودنکی دی او دا راښيي، چې تر نبي مکرم او معظم وروسته د مسلمانانو حالات اوړېدونکي دي.

## په احاديثو کې د اصحابانو عدالت

### هغه اصحاب چې له حوض کوثر نه شړل کېږي:

يو شمېر احاديث را ښيي، چې يوه ډله اصحاب په قيامت کې له حوض کوثره شړل کېږي او دا احاديث د تواتر له حده اوښتي دي او په صحاح شته، مسانيدو او سنن کې ليکل شويدي او ډېرو اصحابو کرامو (لکه حذيفه، عبدالله بن مسعود، ابي بکره، ابو سعيد خدري، عمر بن خطاب، سهل بن سعد، عقبه بن عامر، ابوهريره، ام سلمه، اسماء بنت ابي بکر، ابن عباس، عايشه، انس بن مالك) روايت کړی دي چې د بېلگې په توگه:

۱- صحيح بخاري: ٤ ټوك، ۱٤۲ مخ، باب المحوض (دارالمعروفه -بيروت چاپ):

له ابي هريره (رض) نه روايت دی چې نبي مکرم او معظم ويلي دي: د قيامت پر ورځ را ته يوه ډله اصحاب راځي، بيا نو له حوضه منع کېږي، وايم: پروردگاره! دا مې اصحاب دي.

خدای راته وايي: ته نه پوهېږې چې تر تا وروسته يې څه (مسالې) احداث (نوښتونه) کړي، هغوی واوښتل.
۲- صحيح بخاري، ٤ ټ، ٤١ مخ، باب الحوض (دارالمعرفه - بيروت) له حضرت انس (رض) نه روايت دی، چې نبي مکرم او معظم (ص) ويلي دي: د حوض پر غاړه راته يوه ډله اصحاب راځي. تر هغې چې هغوی پېژنم؛ نو له ما يې شړي، وايم: اصحابان مې دي. راته وايي: ته نه پوهېږې، چې تر تا وروسته يې څه (مسايل) احداث کړل.
۳- د امام مالک الموطاء ۷ ټوك ۲۸ مخ (داراحياء التراث العربی چاپ):
له حضرت ابي هريره نه روايت دی، چې نبي مکرم او معظم يوه ورځ هديرې ته ولاړ او (مړيو ته يې په خطاب کې) وويل: پر تاسې مؤمن ټولي دې سلام وي او ان شاءالله موږ به هم له تاسې سره يو ځای شو. ښه مې راتلل (ښه مې ايسيدل) چې خپل ورونه مې ليدلای. ورته وويل شول: رسول الله! تر اوسه خو ستا په امت کې دا کسان نه دي راغلي؛ نو څنگه يې پېژنې؟

نبي مکرم او معظم ورته وویل: که څوك په تورو اسونو کې دسپین تندي اس ولري؛ نو څپل اس به ونه پېژني؟
ورته یې وویل: هو پېژني یې
نبي مکرم او معظم ورته وویل: هغوی به په قیامت کې د اودس له امله، سپین تندي راننوځي او زه به تر هغوی د مخه حوض ته ځم مبادا، چې ځینې سړي له حوضه مې وشړل شي؛ لکه چې ورك شوی اوښ شړل کېږي او زه به هغوی ته غږ کوم: ولې نه راځئ؟ ویل کېږي: هغوی تر تا وروسته اوښتون راووړ؛ نو وایم: هغوی دې هلاك وي.
٤- صحیح بخاري: ٤/ ١٤٢ مخ باب الحوض (بیروت):
ابي هریره (رض) له نبي مکرم او معظم نه روایت کوي، چې رسول اکرم ویلي دي: ((په هغه منځ کې د قیامت پر ورځ)) چې زه ولاړم ناڅاپه یوه ډله (محشور کېږي)، تر هغه پورې، چې زه یې وپېژنم؛ نو یو سړی زما او د هغوی تر منځه دباندې راوځي او وایي: راشئ: زه وایم: چېرته؟ راته وایي: په خدای د اور پر لوري.
وایم: پر هغوی څه شوي؟
راته وایي: هغوی تر تا وروسته واوښتول.

بيا يوه بله ډله (راځي) تر څو، چې هغوی پېژنم نو زما او د هغوی تر منځ يو سړی دباندې راوځي او وايي: راشئ: زه وايم چېرته؟ وايي: په خدای قسم دا ور پر لوري. وايم: مگر پر هغوی څه شوي؟ راته وايي؟ هغوی تر تا وروسته واوښتل. نو نه وينم چې له هغوی څوك وژغورل شي، مگر لږ شمېر چې په بيابان کې د ايله شويو اوښانو په څېر شي وي.

۵- امام مالك، الموطاء: کتاب الجهاد، الشهداء فی سبيل الله ۲ ټوك، ٤٦١ مخ (دارا احياء التراث العربی - بيروت چاپ):

له ابی النفر نه روايت دی، چې ورته رسېدلي، چې نبي مکرم او معظم د احد شهيدانو ته وويل: د هغوی په باب شهادت ورکوم. ابوبکر صديق وويل: يا رسول الله موږ د هغوی ورونه نه يو؟ هغوی اسلام راووړ او موږ هم راوړی، هغوی غزاگانې کړي او موږ هم کړي؟

نبي مکرم او معظم ورته وويل: هو! خو نه پوهېږم، چې تاسې به تر ما وروسته څه څيزونه (څه مسايل) رامنځ ته کړئ. حضرت ابوبکر وژړل او ويې ويل: ايا موږ به تر تا وروسته يو؟

ابن عبد البر ددې حديث په شرح کې په التمهيد (۲۸۸/۲۱) کې وايي: د احد شهيدانو ته د نبي مکرم او معظم وينا چې: " زه شهادت ورکوم " په دې معنا وه؛ يعنې د هغوی د سم او صحيح ايمان په باب او له گناه نه د سلامت او بچکېدنې او په دنيايي کې چارو کې د هغوی د نه بدلون، او له يو بله سره د سيالۍ کولو په باب شاهدي ورکوم په دې مضمون ډېر احاديث روايت شوي، چې تاسې د ډېرو معلوماتو لپاره لاندې کتابونو ته مراجعه وکړئ:

۱- صحيح بخاري: ۶۷۳/٤، ۶۷٤، کتاب الفتن - باب ما جاْ فی قول الله تعالی: "و اتقوا افتنه" داراتعلم - بيروت

۲- صحيح بخاري: ٤ ټوك /۳۹۰ مخ کتاب التفسير باب قوله: و کنت عليهم شهيدا ما امت فيهم.

۳- امام احمد حنبل مسند (٤۰۲/۱ دارصادر- بيروت

امام احمد حنبل مسند (٤۱۲/۵)

امام احمد حنبل مسند (۳۳۳/۵) - (۲۹۷/۶)

٤- التمهيد (۲۶۱/۲، ۳۰۹)

له تېرو احاديثو څه پايلې لاس راځي؟

*له تېرو احاديثو لاندې ټکي زده کولای شو:

۱- کوم وګړي چې د دې احادیثو په موضوع کې راغلي دا ټول د نبي مکرم او معظم اصحاب دي؛ ځکه ډېری په دې روایاتو کې د " اصحاب " تعبیر د نبي مکرم او معظم پر ژبه راغلی دی او د ابن حجر د تعریف له مخې د "اصحاب " اصطلاح حقیقتاً پر هغوی اطلاق کیږي، چې له نړۍ مسلمان تللی وي .
نو له همدې امله د ځینو توحید او تفسیر به سم نه وي، چې وایي: دا احادیث په هغوی پورې اړوند دي، چې له اصلي اسلامه یې مخ اړولی وي او مرتدان شوي دي "
ځکه په دې حال کې خو دوی په اصحابو کې نه ګڼل کیږي نو ځکه په دې روایاتو کې د ارتداد تعبیر له اصل اسلامه د ارتداد په مفهوم نه دی؛ بلکې له هغه لیکې ارتداد دی، چې نبي مکرم او معظم ورته ښوولې او ترسیم کړې وه او هغوی دا لیکه کړه کړه، چې د دې معنا لپاره څه نښې او قرائن هم شته:
(الف) ـ پوهېږو چې له یوې ډلې پرته نور ټول عام اصحاب له اصل اسلامه نه وو او ځینې خو به د صحیح بخاري په روایت کې د ارتداد، بدلون، اوښتون، تعبیر او احداث مساله په عامو اصحابو پورې اړوند تعبیر شوې

او ډېر لږ شمېر "د ځواوښانو غوندې چې په دښتې کې خوشې دي" تعبير شوي دي.

(ب) _ د احداث مساله د براءْ بن عازب او ابو سعيد خدري په رواياتو کې مطرح شوې؛ لکه چې په صحيح بخاري (کتاب المغازي باب غزوه الحد يبيه) کې راغلی:

" علاْ بن مسيب له خپله پلاره (مسيب) روايت کوي چې ويلي يې دي: له براْ بن عازب سره مې وليدل او ورته مې وويل: خوشاله اوسه، چې د پېغمبر هم مجتي وی او تر ويی لاندې دي ورسره بيعت گړی. راته يې وويل: ای وراره! ته نه پوهېږې چې له هغه وروسته مو څه څيزونه احداث کړی دی.

(ج) _ نبي مکرم او معظم تر خپل رحلت وروړسته، د خپلو اصحابو په باب دا ډار نه درلود، چې گني هغوی به شرك ته مخه کړي او دين به پرېږدي؛ بلکې له دې يې تشويش درلود، چې په دنيوي چاروکې به سيالي او منافست کوي:

صحيح بخاري: ٤/ ١٤٢ مخ، باب فی الحوض (دارالمعرفه _ بيروت چاپ):

" له حضرت عقبه نه روایت دی، چې یوه ورځ نبي مکرم او معظم د احد شهیدانو ته د لمانځه لپاره راوت، بیا منبر ته وخوت او د احد شهیدانو ته یې په خطاب کې وویل:

زه تر تاسې ړومبی (حوض) ته ځم او پر تاسې شاهد یم او پر خدای قسم، چې اوس هم حوض ته ګورم او د ځمکې د خزانو کونجي راکړ شوي اوپر خدای قسم، چې زه پر تاسو له دې نه وېرېږم چې شرك ته به مخه کړئ؛ خو یو له بل سره له سیالۍ مو ډارېږم. "

ابن عبدالبر (الاستیعاب ۱۵۸/۱ _ القاهره) د بسر بن ارطاه د حالاتو ته تشریح کې له یحیی بن معین څخه را اخلي چې بسر بن ارطاه ښه سړی نه و. بیا وایي: نو موږي په اسلام کې ستر خیانات کړي دي د عبیدالله بن عباس بن عبدالمطب دوه زامن یې د مور په غېږ کې ووژل.

نوا بن عبدالبر، له خوضه د اصحابو شړل پر دغسې ځایونو تطبیقوي .

۲- د موطاء له حدیثه پوهېدای شو چې نبي مکرم او معظم د خپل د غاریار، ستر صحابي، په سړو تودو کې

ملګړی حضرت ابوبکر په باب شاهدي نه ورکوي، چې مبادا سبا ته احداث ونه کړي؛ نو څنګه د نورو اصحابو په باب پر عدالت شاهدي ورکوو؟!!

۳- په دې احاديثو کې د اصحابو او هغوی ترمنځ چې په هغه وخت کې نه وو (او نبي مکرم او معظم هغوی د " ورونړو" "افوان" په نامه يادوي) يو ډول پرتلنه او مقايسه ده، چې اصحاب به له حوضه شړل کيږي؛ خو هغوی به له حوضه برخمنيږي.

٤- تاريخ ته له ځيرنې جوتيږي، چې دا احداث د لاندې حديث د نه تطبيق په مفهوم دي:

البدايه والنهايه ۳٦٢/٧، دارالکتب العلمه _ بيروت چاپ: خلکو! زه تر تاسې ړومبی حوض په ځم او تاسې به هم ما ته راشئ، زه له تاسې د ثقلينو په باب پوښتنه کوم؛ نو وګورئ، چې تر ما وروسته له هغوی دواړو سره څه چلن کوئ، له هغوی نه يو يې د خدای ستر کتاب دی او بل يې زما عترت او اهل بيت دي. مهربان او باخبره خدای خبر کړی يم، چې هغوی يو تر بله نه بيليږي، تر هغې چې په حوض کې له ما سره يو ځای شي.

## د پېغمبرانو لپاره د خیر او شر د راز ملګری

یو لړ داسې احادیث شته، چې د ټولو اصحابو د عدالت له مسالی سره اړخ نه لګوی او راښیي چې په اصحابو کې حتی په ځانګړ یو اصحابو کې هم ناوړه وګړي وو:
صحیح بخاري کتاب الاحکام، باب بطانه الامام و اهل مشورته:
عن النبي (ص) قال:
له نبي مکرم او معظم نه روایت دی چې ویلي یې دي:
خدای هېڅ یو پېغمبر مبعوث نه کړ او هېڅ ځانیاستی یې ورته غوره نه کړ؛ خو دا چې دوه د راز ملګري به لري، یو یار به یې نېکۍ ته رابولي او بل به یې شر او بدۍ ته .
څرګندېږي، چې نبي مکرم او معظم دا مساله په ټولیز ډول د ټولو پېغمبرانو په باب ویلې، چې طبعا ځان یې ترې مستثنی کړی نه دی؛ نو ځکه په پېغمبراکرم باندې یې تطبیق په ډاګه څرګندېږي.

## د احد په غزا کې د ځینو اصحابو سرغړونه او تښتېدنه

د احد غزا په باب چې کوم احادیث روایت شوي، له هغوی نه څرګندیږي، چې د ټولو اصحابو د عدالت مساله ناسمه ښکاري:

(الف): رسول اکرم (ص) د حضرت عبدالله بن جبیر په مشرۍ (۵۰) تنو اصحابو ته دستور ورکړ، چې د "یمینین" غاښی به ساتي او په دې باب یې ډېر ټینګار وکړ، چې دا ځای به نه پرېږدي؛ خو کله چې بریا د مسلمینو په برخه شوه او د غنایمو په راټولولو بوخت شول؛ نو دوی هم غاښی پرېښود او د غنایمو په راټولولو پسې ولاړل او د خپل قومندان خبره یې د آنحضرت د دستور له مخې و نه منله، چې په پایله کې د مسلمینو ماته په برخه شوه، آنحضرت (ص) ټپي شو او لکه چې په احادیثو کې راغلي قرآن مجید د هغوی په باب وایي:

((وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّهُ وَعْدَهُ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِ حَتَّى إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِي الأَمْرِ وَعَصَيْتُم مِّن بَعْدِ مَا أَرَاكُم مَّا تُحِبُّونَ مِنكُم مَّن يُرِيدُ الدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ الآخِرَةَ ثُمَّ

صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ وَاللّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ (آل عمران / ۱۵۲) او په يقين خداى چې (په احد کې پر دښمن د بريا) وعده درسره کړې وه، پوره يې کړه، د جګړې په لومړيوکې تاسې د خداى په حکم دښمنان وژل (او دې بريا دوام درلود)؛ خو چې کله سست شوئ او (د سنګرونو د پرېښودو په باب مو) اختلاف و کړ او بيا چې خداى درته هغه څه (پر دښمن بريا) وښوول، چې ستاسې ورسره مينه وه؛ نوسرغړاوى مو وکړ، ځينو دنيا غوښته او ځينو آخرت، بيا خداى له هغوى وګرځولئ (او بريا مو پر ماتې واوړېده)، چې و مو ازمېيي او هغه وبښلئ او خداى پر مؤمنانو د لورنې څښتن دى.))

له همدې امله په احاديثو کې راغلي چې ابن مسعود (رض) ويل:

" مو ږ داسې ګڼله، چې د نبي مکرم او معظم په اصحابو کې داسې څوك نه شته، چې دنيا به غواړي، تر دې چې دا آيت نازل شو "

الدرالمنثور ۳۴۵/۲ مخونه (دارالفکر چاپ)

(ب)_ په دې غزا کې، ډېر اصحاب وتښتېدل او څو تنه له پېغمبر اکرم سره پاتې شول، له ابن مسعود (رض) نه روایت دی چې: الدرالمنثور ۳٥٤/۲: " کله چې اصحابو د پېغمبر له حکمه سروغړاوه؛ نو پېغمبر له (۹) تنو اصحابو سره یوازې پاتې شو، چې (۷) یې انصار او (۲) تنه یې قریش و او لسم یې جناب نبي مکرم و، کله چې مشرکانو پر آنحضرت (ص) غشي ورول نو ویې ویل:

خدای دې پر هغه چا ورحمېږي، چې موږ د دښمن له زیانه وژغوري، یو انصاري راپاڅېد، څه وخت وجنګېد او شهید شو بیا چې جناب سرور کاینات، حضرت محمد د دښمن تر برید لاندې و، و یې ویل: خدای دې پر هغه چا ورحمېږي، چې نو زموږ ملاتړ وکړي او په څو ځله یې دا جمله وویله او هغو (۷) تنو انصارو ملا وتړله او په یو بل پسې جنګېدل چې ټول شهیدان شول او د جناب سرور کاینات، حضرت محمد دوو تنو ملګرو وویل: اصحابو راسره له انصافه کار وانه خست "

*په روایتونو کې راغلي، چې ځینو اصحابو پر نبي مکرم او معظم باندې نیوکې کولې، بې ځایه عیبونه به یې لټول

او ناخوښي به يې څرګندونه په داسې حال کې چې قرآن مجيد وايي:

((فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّىَ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُواْ فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا (نساء/٦٥) خو داسې نه ده، پر پالونکي دې قسم، چې هغوی به تر هغه (حقيقي) ايمان را نه وړي، چې د خپلمنځي شخړو پريکړو ته دې پريکړه کوونکی نه کړي او بيا دې د پريکړو پر وړاندې ځانونه تنګ زړي او خپه و نه مومي او بيخي ورته غاړه کيږدي.))

" فلا وربك لايؤمنون حتى يحكموك فيما شجر بينهم ثم له دې آيته داسې پوهېدای شو، څوك چې د جناب سرور کاينات، حضرت محمد له حکمه زړه تنګوي، ايمان به نه لرى، دا خو لا څه کوې چې د حکم پر وړاندې اروړې ټکورې ووايي او عيبونه پکې راسپړي.

په صحيح بخاري (٣٢٦/٣، دريمه برخه، دارالقلم ـ بيروت چاپ) کې راغلي:

" له حضرت عبدالله بن عمر (رض) نه روايت دی، چې نبي مکرم او معظم يوه ډله د اسامه بن زيد په مشرۍ غزا ته ولېږله. خلکو دده پر مشرۍ ټګۍ پيل کړې. پيغبمر

(ص) وويل: که تاسې د دې په باب ټګي کوئ؛ نو تر دې وړومبی مو د هغه د پلار (زيد) په باب هم ټګۍ کولې، پر خدای قسم اسامه د امارات وړ او زيد هم ما ته ډېر ګران و؛ لکه چې زوی يې هم راته ډېر ګران دی."

له دې ټګۍ اچوونکيو يو هم عياش بن ابي ربيعه و.

په فتح الباري (۱۰۹/۷ او ۷۵۹ مخونو، دارالديان للتراث _القاهره) کې راغلي چې:

د دې ډول ټکو نورې بيګې

(۱) _د حديبيه د سولې پر مهال

صحيح بخاري: ۳۸۱/٤، کتاب الشروط باب الشروط فی الجهاد دوالمصالحه _دارا القلم بيروت چاپ

صحيح بخاري: ۵۱۲/۳، شېږمه برخه، کتاب التفسير، باب قوله "اذ يبا بيونك تحت الشجره "

تفسير النبوي _ معالم التنزيل: ۲۰۲/٤ _ دارالمعرفه _ بيروت جامع البيان طبري: ٦۳/۱۱، ۲۹ برخه _ دارالمعرفه _بيروت

(۲) _ د نبي مکرم او معظم د ناروغۍ پر مهال:

صحيح البخاري: ۲۲۵/٤ کتاب المرض و الطب.

يو شمېر انصارو د غنايمو په ويش کې پر نبي مکرم او معظم نيوکې وکړې:

صحيح البخاري: ٢٧٧/٣ _ ٢٨٠، شپږمه برخه، کتاب المغازي باب غزوه الطائف، دارالقلم _ بيروت چاپ:

د حديث لنډيز دا دی:

نبي مکرم او معظم د حنين په غزا کې د ځينو جګياليو د تاءليف قلوب لپاره غنايم ورکړل او انصارو ته يې څه ورنه کړل، چې خپه شول. په دې روايتونو کې ځينې تعبيرونه شته، چې دهغوی د ايمان ضعف را ښيئ:

((يغفر الله لرسول الله)): خدای دې پېغمبر ونه ښښي (چې قريشو ته يې ورکوي او موږ يې پر ېښودو، په داسې حال کې چې زموږ له تورو د هغوی وينو څڅېږي په بل تعبير کې راغلي: "فغضب الانصار" انصار د پېغمبر له کاره په غوښه شول!

په بل حديث کې راغلي: يو انصاري وويل: په دې کار کې يې د خدای رضا په پام کې نه وه. (کله چې د ا جمله د پېغمبر غوږ ته ورسېده) نو رنګ يې واوړېد او بيا يې وويل: پر موسی عليه السلام دې د خدای

رحمت وي، چې تر دې ډېر وربړېد او له زغمه يې کار واخست .

په بل حديث کې: انصارو وويل: په سختيو کې موږ په کارېږو؛ خو غنيمت نورو ته ورکوي.

ځينې اصحاب خو به په هغه بله وينا کې پېغمبر ونه ويني

د نبي مکرم او معظم (ص) په اصحابو کې ځينې شته، چې د نبي مکرم او معظم تر مړينې وروسته، به هغه اصلاً ونه ويني، د بيلگې په توگه:

عن ام سلمه قالت: سمعت رسول الله (ص) يقول: ان من اصحابی من لايرانی بعد ان افارقه؛ يعنې له ام سلمه بي بي نه روايت دی، چې نبي مکرم او معظم ويلي دي: زما په اصحابو کې داسې شته، چې تر دې وروسته چې زه ترې بېل شم، بيا به ما هېڅکله ونه ويني.

المعجم الكبير ۳۱۹/۲۳ مخ، ۷۲٤ حديث (د صمدي عبدالمجيد سلفي څېړنه)

## په اصحابو کې د منافقینو شتون

یو شمېر احادیث شته، چې د نبي مکرم او معظم په اصحابو کې د منافقینو شتون راښیي، د بیلګې په توګه:

(الف)_ د امام احمد حنبل مسند ۸۳/٤ دار صادر _ بیروت چاپ: له جبیر بن مطعم نه روایت دی، چې نبي مکرم او معظم ویلي دي:

ان فی اصحابي منافقین؛ یعنې زما په اصحابو کې منافقین شته دي.

(ب)_ تاریخ الاسلام ذهبي: مغازي ٦٤٩ مخ (دارالکتاب العربی چاپ):

عن عمار بن یاسر ان حذیفه حدثه عن النبي انه قال:

" فی اصحابی اثنا عشر منافقاً فمنهم ثمانیه لاید خلون الجنه حتی یلج الجمل فی سم الخیاط؛ یعنې له عمار یاسر نه روایت دی، چې حذیفه ورته حدیث ویلي چې نبي مکرم او معظم ویل دي: زما په اصحابو کې (۱۲) تنه منافقین دي، چې (۸) تنه نا ممکنه ده، چې جنت ته لاړ شي "

(ج)_ تاريخ الاسلام: عهد الخفاء الراشدين بوفه، ٤٩٤ مخ: حذيفه (رض) د نبي مکرم او معظم له څلوارلس تنو غوره اصحابو، نه يو تن و، چې نبي مکرم او معظم ورته د راز په توګه د منافقيو نومونه ښوولي وو او تر قيامته پورې، چې کومې فتنې راولاړيږي، هغه يې هر يو ترې کړې وي.

ابن اثير (اسد الغابه ٣٩١/١، دار احياء الترث العربی) ليکي: حضرت عمر (رض)، به چې د مړي جنازه کوله؛ نو پوښتنه يې کوله چې حذيفه شته که نه! نو د هغه په شتون کې به يې د جنازې لمونځ کاوه او که نه به و؛ نو ځرګنده وه چې مړی منافق دی او لمونځ به يې پرې نه کاوه.

په قرآن مجيد (توبه _ ١٠١ آيت) کې راغلي:

((وَمِمَّنْ حَوْلَكُم مِّنَ الأَعْرَابِ مُنَافِقُونَ وَمِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ مَرَدُواْ عَلَى النِّفَاقِ لاَ تَعْلَمُهُمْ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَى عَذَابٍ عَظِيمٍ (توبه/١٠١) او په چاپېريال کې دې ځينې بانډيځيان عرب منافقين دي او(همداراز) د مديني په اوسېدونکيو کې هم منافقان شته، چې ته يې نه پېژني؛ خو موږ يې پېژنو، ژر به ورته

دوه ځل سزا ورکړو(په دنیا کې د رسوایۍ سزا او د مړیني پر وخت سزا)؛ بیا به (په قیامت کې) د ستر عذاب پر لور راګرځول کېږي!))

نو له دې آیته پوهېږو، چې د نبي مکرم او معظم په اصحابو کې منافقین وو، چې حتی خپله آنحضرت هم نه پېژندل او د ځینو نومونه یې حذیفه (رض) ته ورښوولي وو او ځینې نور یې نه پېژندل، چې طبعاً دا منافقین د صحابي په نوم او عنوان پېژندل شوي وو او له پیغمبر اکرم نه یې احادیث زده کول او د هغوی نومونه په تراجم او رجالو کې د صحابي په نوم مطرح وي، چې طبعاً تر بحث لاندې موضوع کې د ټولو اصحابو د عدالت حکم کې هم راځي.

## اصحاب په رجال او حدیث کې

په حدیثو او رجالو کې، چې د ډېرو اصحابو په باب غور کوو؛ نو څرګندېږي، چې ډېرو یې له شرعي احکامو سرغړولی، چې د بیلګې په توګه:

(الف)_ معاويه بن ابي سفيان، چې د عمار د وژنې په حديث کې د هغه ملگرى په "فئة باغيه " تعبير شوى دى: "تقتله الفئة الباغية"؛ يعنې باغي ډله به يې وژني.
ذهبي (سيد اعلام ۴۳۰/۱ موسسه الرسالة) دې حديث ته متواتر ويلي دي او به صحيح بخاري (لومړي ټوك، کتاب الصلاه باب التعاون فى بناء المسجد _ دارا المعرفه للطبع وانشر چاپ) کې په پورته جملې پسې راغلي چې:
"يد عوهم الى الجنه ويدعونه الى النار...
هغه (عمار) به هغوى جنت په رابولي او هغوى به يې اور ته. چې د سته، فئة باغيه" دوزخيان ښيي، چې طبعاً د ډلې پر مشر هم دا حديث تطبيقيږي.
د معاويه بن ابوسفيان د سرغړونې په باب په حديثي او تاريخى کتابونو کې ډېر څه راغلي دي؛ لکه:
(۱) _ په علي (ک) پسې کنځلې کول او نور يې هم دې کارته رابلل.
صحيح مسلم، پينځم ټوك، کتاب فضائل الصحابه: باب فضايل على بن ابى طالب (موسسه بخاري)
(۲) _ د يزيد لپاره بيعت، چې د امارت وړتيا يې نه لرله

(الف): الاصابه: ٤٠٨/٢ دارالفكر للطباعه وا نشر والتوازيع
(ب): طبري تاريخ ٣٦٨/٤ (موسسه الاعلمى للمطبوعات)
(ج): د ابن اثير الكامل فى التاريخ ٤٤٩/٣ (داراالكتب العلميه ـ بيروت)
(د): د ابن كثير تاريخ ٢١٨/٨ (داراالكتب العلميه_ بيروت)

يزيد امام حسين وواژه، هغه امام، چې نبي مکرم او معظم يې په هکله ويلي دي: "چې حسين زما څخه دی او زه له حسين نه يم "

يزيد چه په مدينې کې عامه وژنه وکړه، په داسې حال کې چې حسن بصري رحمة الله عليه د معاويه بن ابوسفيان لپاره څلور ځانګړنې ښيي، چې يوازې يوه يې هم د هغه د هلاکت لپاره بس ده:

(ب) ـ بسر بن ارطاة چې يوې سرغړونې ته يې مخکې اشاره وشوه.

(ج) ـ مغيره بن شعبه، يوه سرغړونه يې داوه، چې په علي پسې به يې ګنځلې کولې.

عن عبدالله بي ظالم قال: كان المغيره نيال فى خطبه من علي او اقام خطبا ء ينالون منه

له عبدالله بن ظالم په روايت كې چې ويلي چې دي: مغيره به په خطبو كې په علي پسې گنځلې كولې او داسې خطيبان يې مقرر كړي وو، چې هغوى به هم گنځلې كولې.

(د) ـ نصيحان بن عمرو په بدر او نورو غزاگانو كې وو، او شراب يې څښل او په شرعي احكامو پابند نه و.

الاستيعاب ١٥٣/٤ ـ اسد الغابه ٣٥٢/٥ (دارالشعب)

(ه) ـ په اسدالغابه (٢٧٦/٦) كې راغلي: عمرو بن جيب ابو محجن الثقفي ډېر شراب څښل، چې د حد له جاري كولو هم نه وېرېده، حضرت عمر (رض) اووه كه (٨) وارې په پر درو هم وهلى.

(و) ـ عبدالرحمن بن عمر بن الخطاب ته په مصر كې د شراب څښلو له امله عمرو عاص سزا وركړې وه او بيا يې مدينى ته راولېږ ه او پلار يې د تاديب لپاره نور هم وواهه، چې ناروغه شو او تر يوى مياشتې وروسته مړ شو.

الاصابه ٧٢/٣ (دارالفكر)

(ز) _ پورته منبع: قدامه بن مظعون له سابقون "الاولون" څنيي و، دوه ځلی يې هجرت کړی و او په بدر کې هم و، خو شراب يې څښلي وو او له امله يې په دورو وهلی و.

## د اصحابو د عدالت په پلوۍ دلايل

د هغو شمېر آيتونو او احاديثو يوه برخه دلته رااخلو، چې د ټولو اصحابو د عدالت لپاره پرې استدال کيږي.

((وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُواْ شُهَدَاء عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنتَ عَلَيْهَا إِلاَّ لِنَعْلَمَ مَن يَتَّبِعُ الرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَى عَقِبَيْهِ وَإِن كَانَتْ لَكَبِيرَةً إِلاَّ عَلَى الَّذِينَ هَدَى اللّهُ وَمَا كَانَ اللّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ إِنَّ اللّهَ بِالنَّاسِ لَرَؤُوفٌ رَّحِيمٌ (بقره/۱٤۳)

او په دې توګه مو تاسې (چې قبله مو منځنۍ قبله ده) يو منځنی امت وګرځولئ، چې پر خلکو شاهدان وسئ او استازی پر تاسي شاهد وي او تاسې، چې پخوا کوم لوري ته مخ اړو، هغه مو يوازې ددې لپاره ټاکلی و، چې څوك په پيغمبر پسې ځي او څوك ترې شا اړوي، دا

کار ډېر سخت و؛ خو نه هغوی ته چې خدای ورته لار ښوولې وه (او په دې هم پوه شئ، چې مخکېنۍ قبلې ته مو لمونځونه سم وو) او خدای هېڅکله ستاسې ایمان [لمو نځ] نه ضایع کوي؛ ځکه خدای پر خلکو ډېر زیات مهربان (او) لورونکی دی.))

د اهل سنتو په حدیثي کتابونو کې ددې آیت په توضیح کې راغلي چې:

غزائی المستصفی ۲ ټوك _ ۱۵٦ مخ (دارالفکرللطباعه والنشر والتوایع):

صحیح بخاري، ترمذي او نسائي له ابي سعید نه روایت کړی، چې نبي مکرم او معظم (ص) ویلي دي:

(د قیامت پر ورځ به نوح راوبلل شي او ورته به ویل شي: آیا د رسالت تبلیغ دې کړی؟ وایي: هو! بیا یې قوم راغوښتل کېږي او پوښتنه ترې کېږي چې نوح ورته تبلیغ کړی؟ وایي: څوك موږ ته د نذیر په توگه نه دي راغلی. نوح ته ویل کېږی: څوك ستا پر تبلیغ شاهدي ورکوي؟ وایي. محمد (ص) او امت یې او دا مبارك آیت " وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا " او وسط یعنې عدل (یعنې تاسې مې عادل امت گرځولي اوسئ)؛ نو ځکه

تاسې رابلل کیږئ او د پیغمبرانو پر تبلیغ گواهي ورکوئ او زه هم پر تاسو شاهدي ورکو م).

آیت ته چې ځیر شو؛ نو د اصحابو نوم پکې نه دی اخستل شوی، یوازې خطاب یې " جعلنا کم" او " امت " دی؛ نو څرگنده ده، چې ټول " امت " یې خطاب نه دی؛ ځکه ټول امت په وسط ستایل شوی، د عادل په معنی نه دی. ایا مخاطب یې ټول اصحاب دي او یا په هر وخت او زمانه کې عادل مؤمنین؛ یا مخطاب یې یوازې هغه اصحاب دي، چې عادل دي؟

هغه حدیث چې تر آیت لاندې راغلی؛ نو سړی ترې پوهېدای شي، چې آیت یوازې په اصحابو پورې تړلی نه دی؛ ځکه چې په روایت کې هم د امت تعبیر راغلی دی او د نبي مکرم او معظم په امت کې تر اصحابو وروسته صالحین هم راغلي، چې په تېرو احادیثو کې پیغمبر هغوی د اخوان او د ورېنو په نامه تعبیر کړي او له هغوی سره یې لېوالیتا ښوولې ده.

بلخوا ټول اصحاب ځکه په آیت کې نه شاملیږي، چې په هغوی کې د قرآن او احادیثو په شاهدانو ډېرو ناوړه کارونه کړي دي؛ لکه:

د افك آيتونه چې د يو شمېر په غندنه کې نازل شوي:
(((لَوْلَا جَاؤُوا عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاء فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاء فَأُوْلَئِكَ عِندَ اللَّهِ هُمُ الْكَاذِبُونَ نور/١٣)ولې هغوی (د خپل تور د اثبات لپاره) څلور شاهدان رانه وستل؟!اوس يې، چې شاهدان نه دي راوستي؛ نو هماغوی د خدای پر وړاندې دروغجن دي.))
وليد بن عقبه نژدی و، چې په يو دوروغ خبر ستره فاجعه رامنځ ته کړي.
نو دا څنګه کېدای شي، چې دوی پر حضرت نوح عليه السلام او نورو پيغمبرانو ګواهان اوسي؟ او زموږ پيغمبر څنګه د دوی پر عدالت ګواهی ورکړي؟!!
او ځينې چې د سترو وژنو او ګناهونو باعث ګرځېدلي؛ نو دوی څنګه د الهی عدل په محکمه کې د حضرت نوح د شاهدۍ لپاره راپاڅېږي؟!!
حاکم حسکانی حنفي (شواهد التنزيل ١/ ٩٢)
همدارنګه د اهل بيتو د لارويانو په کتابونو (اصول کافي لومړی ټوك، ١٩ مخ، مکتبه الصدوق چاپ) کې امت وسط د نبوی کورنۍ دولس ګوني امامان ښوول شوي، چې له فکري اخلاق او کړو وړو له پلوه له افراط او

تفریطه خوندی دي او د وسط (عدل) مفهوم پر همدوی تطبیږي.
حاکم حسکاني حنفي (شواهد التنزیل لومړی ټوك **۹۲** مخ) لیکي:
عن سلیم بن قیس عن علي قال: ان الله ایانا عنی بقوله تعالی: " لتکونوا شهداء علی الناس " فرسول الله شاهد علینا. و نحن شهداء علی الناس و حجته فی ارضه و نحن الذین قال الله اسمه (فیهم): "ولذلك جعلناکم امةً وسطاً"
پیغمبران د عصمت خاوندان دي او نوح علیه السلام؛ خو اولوالعزم پیغمبر دی او په آیت کې د "امت وسط" شهادت ثابت دی؛ نو پر حضرت نوح علیه السلام باندې به د حاکم حسکاني د روایت له مخې د ځمکې حجتونه شاهدي وایي نه هغوی چې په ټیټ مقام کې پراته وي.
((کُنتُمْ خَیْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنکَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْکِتَابِ لَکَانَ خَیْراً لَّهُم مِّنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَکْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ (آل عمران/۱۱۰) تاسې غوره امت یاست، چې د خلکو ګټې

ته رادبره شوي يئ (داچې) پر نېکيو امر او له بديو منع کوئ او پر خدای ايمان لرئ او که کتابوال (پر دغسې کړلار او ځلاند دين) ايمان راوړي؛ نو ورته غوره ده (خو يوازې) لږ شمېر يې ايمانوال دي او ډېر شمېر يې فاسقان (او د خدای له فرمانه سر غړوونکي) دي.))

دا آيت هم په اصحابو پورې ځانگړی نه دی او که اصحاب پکې شاملېږي؟ نو دا امت په نوم ورگډ دی، هغه امت چې د غوره والي دليل يې بيان شوېدی "تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ" او ځرگنده ده، هغوی له دې فضيلته برخمن دي، چې خپله پر نېکيو عمل کوي او له بديو ځان ژغوري، په داسې حال کې چې ټول امت او ټول اصحاب خو داسې نه دي.

((وَالسَّابِقُونَ الأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ رَّضِيَ اللّهُ عَنْهُمْ وَرَضُواْ عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (توبه/۱۰۰) او د مهاجرينو او انصارو لومړني مخکښان او هغوی چې په نېکيو کې په هغوی پسې ولاړل، خدای له هغوخوښ او هغوی (هم) له خدايه خوښ شول، ورته يې د جنت باغونه چمتو کړي، چې

تر ونو لاندې يې ويالې بهېږي او تل به پکې اوسېږي او دا ستره بريا ده!))

د ورپسې آيت:

((وَمِمَّنْ حَوْلَكُم مِّنَ الأَعْرَابِ مُنَافِقُونَ وَمِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ مَرَدُواْ عَلَى النِّفَاقِ لاَ تَعْلَمُهُمْ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَى عَذَابٍ عَظِيمٍ (توبه/۱۰۱) او په چاپېريال کې دې ځينې بانډېځيان عرب منافقين دي او(همداراز) د مدينې په اوسېدونکيو کې هم منافقان شته، چې ته يې نه پېژنې؛ خو موږ يې پېژنو، ژر به ورته دوه ځل سزا ورکړو(په دنيا کې د رسوايۍ سزا او د مړيني پر وخت سزا)؛ بيا به (په قيامت کې) د ستر عذاب پر لور راګرځول کېږي!))

لومړی: دا آيت په لومبنيو مهاجرين او نصارو پورې ځانګړی دی او ټول اصحاب پکې نه راځي.

دويم: آيت په ايمان کې لومبيوالی يا په هجرت او ملاتړ کې لومبی والی ستايلی او برنډه ده، چې په دې ستاينه کې يوازی هغوی شامل دي، چې په نورو برخو کې يې د خدی د رضا لپاره صالح اعمال تر سره کړي

وي او فاسقان پکې نه شاملېږي؛ ځکه فاسقان د عقل او فضل له مخې د الهی رضوان وړ نه دي.

قرآن مجید وايي:

((سَيَحْلِفُونَ بِاللّهِ لَكُمْ إِذَا انقَلَبْتُمْ إِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُواْ عَنْهُمْ فَأَعْرِضُواْ عَنْهُمْ إِنَّهُمْ رِجْسٌ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ جَزَاء بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ (توبه/۹٤) ))

پر دې مطلب بل شاهد، د "احسان" شرط دی، چې په تابعینو کې راغلی، چې خورا په مهاجرینو او انصارو کې معتبر دي.

دریېم: د آیت شرط دادی، چې د عمر تر پایه پورې، پر خپل احسان ټینګ ولاړ وي او نه به کږېږي؛ خو دا چې ټول وړومبني مخکښان همداسې وو؛ نو قرآن مجید احادیث او د اصحابو ژوند څېړنه د دې پرخلاف نښې نښانې راښيي؛ لکه چې مخکې مو ورته اشاره وکړې وه.

((يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ اللّهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ (انفال/٦٤) نبي! تا او ستا مؤمنو لاارویانو ته خدای بس دی (؛ یوازې پر همدوی ډډه لګوه).))

په دې آیت کې په "من المؤمنین" کې "من" کلمه د تبعیض او توپیر پیدایښت راښيي او یا لږ تر لږه احتمال

يې په نښه کوي؛ نو ځکه مؤمنان د پیغمبر په لارویانو او نه لارویانو ویشل شوي او آیت دانه ښیي، چې د جناب سرور کاینات، حضرت محمد د زمانې ټول د هغه لارویان وو.

((مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاء عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاء بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا (الفتح /۲۹) محمد(ص) د خدای استازی دی او هغه کسان، چې ورسره دي، د کافرانو په مقابل کې ډېر سخت (او) پخپلو کې خوا خوږي دي، ته به يې تل رکوع او سجده کوونکي وينې (او په دې عبادت) د خدای فضل او خوښي غواړي.پر وچوليو يې د سجدو نښې ښکاره دي. هغوی په تورات او انجيل کې په همدې ځانګړنو ياد شوي دي، دوی هغه کښت ته ورته دي، چې لومړی (تنکي او کمزوري) تېغونه راباسي بيا خپله ملا ټينګه کړي بيا کلک شي بيا

(د ښې ودې له امله) پر خپلو ډډونو درېږي (چې) بزګران ورته حيرانېږي. (همدغسې د محمد(ص) ياران له کمزورۍ ځواک ته رسي) چې کافران يې [پر پياوړتيا او ډېرښت] له غوسې وسوځي! هغوی چې ايمان راوړی او ښې (چارې) يې کړې دي (؛ نو) خدای ورسره د ښښنې او سترې بدلې ژمنه کړې ده.))

په پام کې مو وي چې:

لومړی: په "والذين معه" کې، نوازې معيت، جسماني اړخ نه لري؛ ځکه څرګنده ده، چې آيت د نبي مکرم او معظم ملګری ستايي؛ لکه: ((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَكُونُواْ مَعَ الصَّادِقِينَ (توبه/۱۱۹) مؤمنانو! د خدای (د فرمان له مخالفته) ووېرېږئ او له رښتينو سره اوسئ.))

او که " معيت " يوازې جسماني وي؛ نو په آيت کې به هغه منافقين او فاسقين شامل وي، چې په اصحابو کې وو، په داسې حال کې چې هغوی له دې ستاينې بهر دي، په دې خبره شاهد ايمان او صالح عمل دي؛ لکه چې د آيت وروستۍ جمله:

" وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا ".

دويم: که فرضاً " معيت " جسماني هم وي؛ نو لکه مخکې مو چې د تېرو آيتونو په معنا کې وويل: هغه منافقين او فاسقين ترې بهر دي، چې تر نبي مکرم او معظم وروسته له لارې کاږه شوي وو.

((لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا (فتح/١٨) په رښتيا، خدای له مؤمنانو هغه وخت خوشحاله شو، چې تر ونې لاندې يې درسره بيعت وکړ؛ نو (خدای) پوه شو، چې په زړونوکې يې څه دي؛ نو ځکه يې پرې ډاډ راښکته کړ او په بدل کې يې ورته "نژدې بريا" په برخه کړه؛))

لومړی: دا آيت د مؤمنانو په باب دی؛ يعني د هغوی چې ايمان يې تثبيت او ستاتل شوی دی؛ نو ځکه په اصحابو کې پر چا چې د نفاق احتمال هم وي، دا آيت پرې نه تطبيقېږي.

دويم: دا آيت د غزالي (المستصفی ١٥٦/٢ دارالفکر چاپ) په وينا په حديبيه سولې پورې ځانګړی دی او په هغو اصحابو پورې چې وروسته مسلمانان شوي تړاو نه لري.

درېیم: د رضایت شرط دادی، چې هغوی به تر پایه نه کړېږي او پر لاره به سم سیخ روان وي.

## د ټولو اصحابانو د عدالت د اصل لپاره په لاندې احادیثو استدلال شوی دی

(۱) _ المستصفی (۱۵۷/۲ دارالفکر چاپ):
اصحابی کالنجوم بايیهم اقتدیتم اهتدیتم؛ زما اصحاب د ستوریو په شان دي، په هر یوه پسې چې ولاړشئ؛ نو لار به مو موندلې وي.
پر دې حدیث، حدیثپوهانو او رجالپوهانو نیوکې کړي دي لکه:
(الف) _ ابن قیم جوزي په اعلام الموقعین (۴۲/۲ _ دارالجبل بیروت چاپ) کې وايي:
" دا حدیث " د اعمش له لارې، له ابوسفیان، له جابر او د سعید بن مسیب حدیث له ابن عمر د حمزه جرري له لارې له نافع له ابن عمر نه روایت شوی، په داسې حال کې، چې د هغوی لارې ثابتې نه وې.
ابن عبدالبر ویلي دي چې:

... بزاز (د اهل سنتو ستر محدث) را ته وویل: دا چې له نبي مکرم او معظم نه روایت شوی "چې زما اصحاب د ستوریو غوندې دي، په هر یوه پسې چې ولاړ شئ؛ نو لاره به مو موندلې وي"؛ نو له نبي مکرم او معظم نه ددې خبرې وکیدل ناسم دي.

(ب) _ ذهبي (میزان الاعتدل ٤١٢/١، رقم ١٥١١) د جعفر بن عبدالواحد هاشمي قاضي (د دې حدیث یو راوي دی) په ترجمه کې وایي: جعفر بن عبدالواحد هاشمي دارقطني (د هغه په باب) ویلي دي، چې هغه به حدیث جعل او جوړاوه او ابو زرعه ویلي دي: هغه احادیث یې روایت کړي، چې بنسټ نه لري... او ددې سړي له بلاګانو یو هم د " اصحابی کالنجوم " حدیث دي.

ذهبي د اهل سنتو ستر حدیثیوه او رجال پوه دی او د دې راوي یوه بلا یې "اصحابی کالنجوم" حدیث ګڼلی که چېرته دا حدیث له اعتباره برخمن وای؛ نو ذهبي به د هغه په باب دا تعبیر نه کارا وه.

د حدیث دلالت هم د منلو وړنه دی؛ ځکه یو شمېر اصحاب (د مخکښنیو اسنادو له مخې) منافقین او

فاسقين وو؛ نو خرگنده وه، چې په هغوی پسې د ستوريو غوندې اقتدا نه کېږي.

دويم: اصحابو په ډېرو ځايونو کې تېروتنې کړي؛ نو څنګه ورپسې اقتدا وشي. په دې باب د زياتو معلوماتو لپاره د الغديرشپږم ټوك وگوره.

دريم: د اصحابو په منځ کې ډېر اختلافات وو؛ نو په دې اختلافاتو کې به په کوم يو پسې ځو، په داسې حال چې ټول خو پر حقه نه وو؟

٢ _ صحيح بخاري ٦٠/٣، کتاب فصائل النبي (ص)، باب فضايل اصحاب النبي (ص): قال رسول الله (ص): " خير امتى قرنى ثم الذين يلونهم هم الذين يلونهم...

" نبي مکرم او معظم وويل: زما د امت غوره وگړي هغوی دي، چې زما په زمانه کې ژوند کوي بيا ورپسې، وروستی نسل او بيا همداسې چې ورپسې راځي "

دا حديث راښيي چې د نبي مکرم او معظم زمانه له غوره زمانو څخه ده او کوم انسانان (اصحاب او تابعين) چې په دې پېړۍ کې ژوند کوي، هغوی به غوره انسانان وي.

لومړی: په هغه پېړۍ کې، چې نبي مکرم او معظم اوسېده، داسې جنايات تر سره شوي، چې تاريخ ترې

شرمېږي، په همدې پېړۍ کې امام حسین، یاران یې او نبوي کورنۍ ووژل شوه.
په همدې پېړۍ کې د "حره" پېښه وشوه او د مدینې حرم مات شو.
په همدې پېړۍ یا لږ ترې وروسته ځینو قرآن مجید ته سپك وکتل او په غشویې وویشته.
نو څنګه ویلای شو، چې د پېغمبر د امت غوره کسان په دې پیړیو کې اوسېدل.
دویم: د حدیث محتوا او مضمون نیمګړتیا لري:
ډېر احادیث راښیي، چې په راتېرو پېړیو کې په داسې انسانان وي، چې د پېغمبراکرم تر اصحابو به غوره وي لکه:
١ _ د امام احمد حنبل مسند ١٥٥/٣: له انس بن مالك نه روایت دی، چې پېغمبراکرم یو ځل وویل: خوښ دې وي هغه چې پوره یې ایمان راوړی او زه یې لیدلی نه یم. بیا یې اوه (٧) ځلې وویل: خوښ دې وي هغه چې زه یې نه یم لیدلی، خو ایمان یې راوړی وي "
٢_ امام احمد حنبل، مسند ١٠٦/٤: ابو جمعه وویل: له پېغمبراکرم سره وم او له حضرت ابوعبیده جراح سره مو

د غرمې ډوډۍ خوړه. ابوعبیده له حضرت رسول اکرم نه پوښتنه وکړه، ایا تر موږ (اصحاب) غوره نور څوك شته؟ له تا سره مو اسلام راووړ او له تاسې سره مو جهاد وکړ؟ ورته یې وویل: هو په تاسې پسې قوم چې راځي زه یې نه یم لیدلی؛ خو پر ما ایمان راولی.

۳ _ د امام احمد حنبل مسند ۲۷/۳: مخکې مو د هغو احادیثو په ترڅ کې چې له حوضه شړل کیږي، ځینې مطالب وویل: عن ابی هریره: ان رسول الله خرج الی المقبرة...

په دې حدیث کې نبي مکرم او معظم لېوالتیا ښیي، چې خپل ورونه وګوري، کله چې ورته وویل شي، چې موږ ستا ورونه نه یو؟ نو نبي مکرم او معظم ورته په ځوب کې وایي: تاسې زما اصحاب اوسئ، زما ورونه هغوی دي، چې لا تر اوسه نه دي راغلي او زه تر هغو ړومبی (په قیامت کې) حوض ته ځم او بیا ورپسې د اصحابو له حالته اندېښنه ښیي، چې هسې نه چې تر هغه وروسته د اوښتون له امله له حوضه وشړل شي او د ځان د هلاکت چارې په خپل لاس برابرې کړي.

عقل هم موږ ته راښیي چې:

چا چې نبي مکرم او معظم نه وي لیدلی او د ځیرنې له امله یې پرې ایمان راوړی وي، تر هغوی غوره دي، چې پیغمبر یې لیدلی او ایمان یې پرې راوړی وي؛ ځکه د ایمان او صالح عمل لار، چې د پتمنۍ له مخې وي، ارزښت او فضلیت یې ډېر دی، همدغسې که یو صحابي د صحبت قدر و نه پېژني او داسې عمل وکړي، چې له شان سره یې نه ښايي؛ نو له فضلیت به لرې شوی وي او د ټینګې سزا وړ به وي، څه چې مهم دي، د فضیلت او غوره والي کچې او معیارونو دي او څوك چې په هره اندازه له دې کچو برخمن وي؛ نو په همغه اندازه باید ورته ارزښت ورکړو او څوك چې له دې کچو پسې شا شي؛ خو بیا هم ورته په ارزښت قایل یو؛ نو دا کړنه له عقل او شرعې سره اړخ نه لګوي.

((يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ (حجرات/۱۳) خلکو! په واقع کې موږ تاسې له یوه نارینه او یوې ښځې پیدا کړي یاست او موږ تاسې ځانګې (او خېلونه) او ټبر ټبر وګرځولئ، چې یو بل وپېژنئ (خو دا د امتیاز کچه نه ده) په حقیقت کې د

خدای پر وړاندې ډېر عزتمن مو، ستاسې ډېر پرهېزګار دی، په رښتیا چې خدای پوه (او له هر څه) خبر دی.))

((قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (آل عمران/۳۱) ووایه: ((که له خدای سره مینه لرئ؛ نو زما لاروي وکړئ، چې خدای (هم) له تاسې سره مینه وکړي او ګناهونه مو وبښي؟ او خدای بښونکی (او) مهربان دی))

د نبي مکرم او معظم په باب قرآن مجید وایي:

((وَلَوْلاَ أَن ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلاً (اسراء/۷٤) اوکه ته موږ (پرحق باندې) ټینګ کړی نه وای (او د عصمت د مقام په رڼا کې له بې لارې خوندي شوی نه وې؛ نو) نژدې وه، چې لږ څه به د هغولوري ته ورمات شوی وې.))

((وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ. لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِينِ.ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِينَ (الحاقه/٤٤-٤٦) او که هغه (په دروغو) پر موږ کومه خبره تړلې وای،

موږ یې ښی لاس نیوه، بیا به مو ښهرګ یې پرې کړی وای!))

د نبي مکرم او معظم ښځې چې د صحابيت شرف يې پر برخه دی او هم دماندينتوب له مقامه برخمنې دي، د هغوی په باب وايي:
((يَا نِسَاء النَّبِيِّ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُضَاعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ وَكَانَ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيراً (احزاب/۳۰)
د پيغمبرمېرمنو! له تاسې چې هره يوه ښکاره بدکار وکړي (؛نو) هغې ته به دوه گرايه عذاب ورکړای شي او دا (کار) خدای ته اسان دی.))
آيا دا به سمه وي، چې وويل شي، چې څوك د نبي مکرم او معظم حرمت او درناوی ناليدلی وگڼي او د هغه د ناستې او صحبت حق تر پښو لاندې کړي او د شريعت له لارې کوږ شي؛ نو بيا هم د هغه درناوی وکړو؟!!
آيا دا مؤمن او فاسق ته په يوه سترگه گتل نه دي، قرآن دا عمل په ټينگه غندلی دی وايي:
((أَفَمَن كَانَ مُؤْمِنًا كَمَن كَانَ فَاسِقًا لَّا يَسْتَوُونَ (سجده/۱۸)ايا څوك چې مؤمن وي، د سرغړاند په څېر کېدای شي؟(نه هېڅکله) برابر نه دي.))

عراقي عالم؛ علي شهرستاني په خپل كتاب "وضو النبي كتاب "كې ليكلي دي:

اهل سنتو ورونو داسې ګڼلې، چې له پيغمبر اكرم سره مصاحبت پخپله ددې باعث ګرځي، چې صحابي له داسې چارو او كړو وړو خوندي ساتي، چې له عدالت او انصاف سره اړخ نه لګوي؛ نو له همدې امله صحابي به چې له نبي مكرم او معظم نه هر څه نقلول، دوی به منل، هغه به يې دليل نيوه او عملي كول يې هم، پرته له دې چې د صحابي د عدالت، ايمان، استقامت، صداقت او امانت په باب څېرنه وكړي.

او دا مطلب پر عقلي يا فعلي دلايلو ولاړ نه وي؛ ځكه له نبي مكرم او معظم سره مصاحبت، سره له دې چې فضيلت وي؛ خو اصحابي پر مصونيت دليل كېدای نه شي؛ نو ځكه صحابه له تېروتنې او ګناه څخه د مصونيت له پلوه د نورو خلكو په څېر وي، چې موثق، عادل، پاك سپېڅلي او له ګناه پاك خلك په هغوی كې ډېر وو، ګناهكاران متجاوزين او مجهول الحال وګړي هم په كې وو.

شرعي دليل لرو، چې د واحد خبر راوي باید عادل وي او دا یو مطلق شرط دی که څه صحابي وي؛ خو که هر څوك عادل نه وي، د هغه خبره او روایت د قطعي دلیل له مخې مطلقاً له اعتباره لوېدلې ده. پر مجهول الحال وګړیو هم دا حکم تطبیقېږي، که د دې وګړیو په باب څېړنه وشي، چې عدالت یې تثبیت شي؛ نو بیا به یې په روایت یوازې په فروعانو کې استناد نیول کېږي؛ خو د دین په اصولو کې د عادل پر واحد خبر دلیل نه شي کېدای که د واحد خبر د راوي عدالت ثابت نه شي؛ نو د هغه پر روایت باندې عمل کېدای نشي. د د واحد خبر په باب د اهل سنتو عالمانو رایه ده او په دې باب ورسره موږ هم ورسره یوه خوله یو.

اهل سنت چې د اصحابو په احادیثو عمل کوي، علت یې دادی چې هغوی د ټولو اصحابو پر عدالت عقیده لري، چې هر څه دوی وایي، سم دي، بحث او پلټنې ته یکې اړه نه شته او دوی داسې ګڼلي، چې د اصحابو او راویانو عادل ګڼل په حقیقت کې د حضرت جناب نبي مکرم درناوی کول دي، په داسې حال کې، چې دا یوه ښکاره تېروتنه ده؛ ځکه د نبي مکرم او معظم درناوی او

سپڅلتیا او د مقام ساتنه په دې امکان لري، چې د آنحضرت (ص) شخصیت او سنت د دروغجنو انسانانو له لاسونو وژغورو.

جناب نبي مکرم امت ته د دروغجنو په باب وايي: او ژر دی چې په ما پسې به دروغجن ډېر شي؛ نو هر څوك چې په قصد سره پر ما پورې دروغ وتړي، ځای به يې دوزخ وي ".

لاندې آيتونو ته ځير شئ:

((إِذَا جَاءكَ الْمُنَافِقُونَ قَالُوا نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ اللَّهِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَكَاذِبُونَ (منافقون/۱) چې کله منافقان درته راشي (؛ نو) وايي: ((موږ شاهدي ورکوو، چې ته په رښتيا د خدای استازی يې.)) او خدای پوهيږي، چې ته يې استازی يې او خدای شاهدي ورکوي، چې منافقين بېخي دروغجن دي (او پر خپلو خبرو ايمان نه لري).))

((وَإِذْ قَالَت طَّائِفَةٌ مِّنْهُمْ يَا أَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ فَارْجِعُوا وَيَسْتَأْذِنُ فَرِيقٌ مِّنْهُمُ النَّبِيَّ يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ إِن يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارًا (احزاب/۱۳) او (همداراز دريادکړه) چې کله يوې ډلې يې وويل: ((د

يثرب (مدينې) خلکو! دا ستاسې د تمېدو ځای نه دی؛ نو بېرته (خپلوکورونو ته) ستانه شئ)) او يوې ډلې يې له پيغمبره د ستنېدو اجازه وغوښته او ويل يې: ((په واقع کې زموږ کورونه بې ځوکه دي)) حال داچې بې ځوکه نه ول، هغوی يوازې غوښتل (له جګړې) وتښتي.))

د اصحابو پر نفاق د پوهېدو لپاره را ته د توبې ۱۰۱ آيت بس دی چې:

((وَمِمَّنْ حَوْلَكُم مِّنَ الأَعْرَابِ مُنَافِقُونَ وَمِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ مَرَدُواْ عَلَى النِّفَاقِ لاَ تَعْلَمُهُمْ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَى عَذَابٍ عَظِيمٍ (توبه/۱۰۱) او په چاپېريال کې دې ځينې بانډيځيان عرب منافقين دي او(همداراز) د مدينې په اوسېدونکيو کې هم منافقان شته، چې ته يې نه پېژنې؛ خو موږ يې پېژنو، ژر به ورته دوه ځل سزا ورکړو(په دنيا کې د رسوايۍ سزا او د مړيني پر وخت سزا)؛ بيا به (په قيامت کې) د ستر عذاب پر لور راګرځول کيږي!))

((لَقَدِ ابْتَغَوُاْ الْفِتْنَةَ مِن قَبْلُ وَقَلَّبُواْ لَكَ الأُمُورَ حَتَّى جَاء الْحَقُّ وَظَهَرَ أَمْرُ اللّهِ وَهُمْ كَارِهُونَ (توبه/۴۸) په رښتيا هغوی تردې له مخه (هم) د فتنې د راولاړولو هڅې

کړي دي او پر تا يې چارې ګډې وډې کړې وې، تردې چې حق راغی او د خدای امر ښکاره شو (او بريالي شوئ) حال داچې هغوی ناخوښه وو.))
((يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ (توبه/۷۳) پيغمبره! له کافرانو او منافقانو سره جهاد او سخت چلن وکړه، ورتګ يې جهنم ته دی، چې خورا ناوړه هستوګنځی دی!))

څوك چې په دې او ددې په څير نورو آيتونو کې غور وکړي نو په نامعلوم الحالو وګړيو کې به د منافقينو په باب په اصحابي توګه يوه شي. لازم دی، چې د ټولو اصحابو له روايتونو ډډه وکړو، تر څو چې ايمان او عدالت يې تثبيت شي.

خو موږ اماميه شيعه د معلوم الحاله اصحابو حديث منو پر دې سر بېره د اهل بيتو د امامانو احاديث راته بس دي؛ ځکه چې هغوی له قرآن سره په تول کې يو شان دي او د هغوی له لارې د ژغورنې او صواب لار پيژندل کيږي کاشکې پوهېدای هغه منافقين، چې په قرآن کې ياد شوي وو، تر پيغبر اکرم وروسته چېرته ولاړل؟ هغوی

جناب سرور کاینات، حضرت محمد په ژوندوني خپه کاوه.

یو شمېر اصحابو د عقبی په شپه له پاسه نه ډبرې راغورځولې، چې د نبي مکرم او معظم اوښه ووېروي او لاندې کندې ته راولېږي، چې بیا نبي مکرم او معظم پر یوه ډله اصحابو لعنت ووایه، (په دې باب د امام حنبل د مسند د پینځم ټوك وروستۍ برخه ولولئ) تاریخپوهان لیکي، چې نبي مکرم او معظم له زروتنو اصحابو سره احد ته و خوځېد، تر رسېدو مخکې درې سوه تنه منافقین بېرته راستانه شول او څو تنه له دې، چې چېرته و به پېژندل شي او مشهور به شي لښکر سره پاتې شول، پردې سر بېره که په دې زرو تنو کې له درې سوو پرته منافقین نه وای؛ نو دا بس ده، چې پوه شو، چې د وحې د راکېووتو په زمانه کې د صحابو په منځ کې نفاق خپور شوی و؛ نو څکه څنکه دو چې په پرې کېدو او د نبي مکرم او معظم په رحلت سره نفاق هم پای ته ورسېد؟!

ایا د جناب سرور کاینات، حضرت محمد ژوند د منافقین د نفاق لامل و؟ یا د آنحضرت (ص) مړینه د هغوی د ایمان او عدالت باعث و، چې هغوی یې تر

انبیاوو وروسته غوره بندګان کړل؟! څرنګه د اصحابو حالات (واقعیات) د نبي مکرم او معظم په مړینې سره واوختل او بیا نفاق دومره سپېڅلی شو، چې هغه سترو جرایمو ورته څه زیان ونه شو رسولی؟ دا څه وشول چې د عقل او وجدان پر خلاف ځینو ګروهنو ته اړ باسل کېږو؟ نفاق ته چې د تقدس او سپېڅلتیا جامې واغوستل شي، پردې سر بېره په کتاب او سنتو کې وینو داسې منافقین و، چې پر خپل منافقت پاتې شول:

((وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىَ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ اللّهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِي اللّهُ الشَّاكِرِينَ (آل عمران/۱٤٤)

او محمد(ص) یوازې د خدای استازی دی او تر هغه مخکې هم (نور) استازي وو؛ نو که (هغه) ومري یا ووژل شي؛ تاسې پر شا ګرځئ؟ (او اسلام پرېږدئ، جاهلیت او کفر ته ورستنېږئ؟!) او څوك چې (له خپلې عقیدې) واوړي (؛ نو پوه دې شي، چې) خدای ته هیڅ زیان نشي رسولای او خدای به ډېر ژر شکر ایستونکیو (او د زغم خاوندانو) ته بدله ورکړي.))

راځو د احاديثو برخې ته:

صحيح بخاري (٤/ ٩٤، كتاب الرقاق، باب: حوض):

نبي مكرم او معظم ويلي دي: د قيامت پر ورځ به (د حوض تر غاړې) ولاړ يم، يوه ډله به گورم او پېژنم به يې، يو څوك به زما او د هغوی له منځه راولاړ شي او وايي: راځئ: زه وايم: چېرته! وايي پر خدای قسم! د اور خوا ته، زه وايم: مگر هغوی څه كړي؟ وايي: هغوی تر تا وروسته لومړني حالت ته اوښتي وو.

بيا ورپسې بله ډله راوړي او زه هغوی پېژنم يو سړی زما د هغوی له منځه راوځي او وايي: راځئ؟ زه وايم چېرته! وايي: پر خدای قسم د اور خوا ته. زه پوښتنه كوم: دوی څه كړي وو؟ وايي: دوی تر تا وروسته جاهليت او لومړي حالت مخه كړې وه. د هغوی ډېر لږ به د دوزخ له اوره وژغورل شي. "

او د باب حوض په وروستيو كې له اسماء بي بي (حضرت ابوبكر لور) روايت كړي، چې نبي مكرم او معظم وويل: زه به پر حوض كوثر ولاړ يم او گورئ به چې له تاسې نه به يوه ډله ما ته راځي او ځينې به را څخه نيسي. زه وايم: خدايه! زما له څنگه او زما له امته

یې نیسې؟ ورته ویل کیږي: ایا پوهیږې، چې دوی تر تا وروسته څه کړي؟ پر خدای! چې هغوی خپل لومړني حالت ته اوښتي وو ".

ابن ملیکه ویل: خدایه! تا ته پناه وړو، چې خپل لومړني حالت ته وگرځو او یا له دینه کاږه شو.

بیا صحیح بخاري په همدې باب کې له سعید بن مسیب نه روایت کوي، چې نبي مکرم او معظم ویلي: له اصحابو نه مې یوه ډله، ماته حوض کوثر ته راځي، هغوی په حوض کې په کوږه وهل کیږي. زه وایم، پروردگاره! دا زما اصحاب دي. خدای تعالی وایي: ته نه پوهیږې، چې دوی تر تا وروسته څه وکړل، دوی تر تا وروسته جاهلیت ته مخه کړه. بیا له سهل بن سعد نه روایت کوي، چې جناب نبي مکرم ویلي دي.

" زه تاسې پر حوض راتلوم. هر څوك چې زما تر څنگه تیر شو؛ نو له هغه به وڅښي، چې هیڅکله به تږی نشي، داسې قومونه راته راولي، چې زه هغوی پیژنم او هغوی ما پیژني او بیا زما او ستا تر منځ بیلتون راځي ".

ابو حازم وویل: نعمان بن ابی عیاش له ما نه پوښتنه وکړه: همداسې دې له سهل نه اوریدلي؟ ورته مې وویل:

هو ابوسعيد خدري وويل: ما هم دا له نبي مکرم او معظم اورېدلي دي: " زه وايم، هغوی زما څخه دي. په ځواب کې ويل کېږي، ته نه پوهېږې، چې هغوی تر تا وروسته څه کړي؟ زه هم وايم پر هغوی دې مړينه او هلاکت وي، چې زما وروسته يې هغه واړو ".
عسقلاني رحمة الله عليه په ارشاد الباري کې د "هغه واړو" کلمې په تشريح کې وايي: يعنې د پېغمبر دين يې واړو.
صحيح بخاري (۳۰/۳، باب غزوه حديبيه): علا بن مسيب له خپله پلاره روايت کوي: براء بن عازب سره مې وليدل او ورته مې وويل: نېکمرغه يې چې د پېغمبر صحابي وې او تر ونې لاندې مو ورسره بيعت کړی!
براء وويل: وراره! خو ته نه پوهېږې، چې موږ تر پېغمبر وروسته څه وکړل (صحيح بخاري ۱۵٤/۲، کتاب بدء الخلق)

## په نصوصو کې د دين مرجعيت

 څرګند نص دی، چې د سپېڅلي عترت (د نبي مکرم او معظم ډېر نږدې خپلوان) امامان له قرآن سره په يوه تيږه تلل شوي، په امت کې د نوح د بېړۍ غوندې دي، چې که څوك پکې سپاره شو؛ نو وژغورل شو او چا چې ترې ډډه وکړه؛ نو غرق شو او د بني اسرائيلو د "باب حطه " غوندې دي، چې که هر څوك ورننووت؛ نو وبښل شو او امت ته داسې دي؛ لکه سر چې تنې ته وي او بلکې سر ته د سترګو په څېر دي. دوی الهي ټينګې رسۍ دي، چې هېڅکله نه شلېږي او د قرآن په څېر درنې ستې دي، چې چا پرې منګولې ښخې کړې، بې لارې به نشي او چا چې له هغو درنو ستو (قرآن _ اهل بيت) لاس واخست، بې لارې شو او خدای تعالی ته نشي رسېدای. پېغمبر اکرم راته امر کړی، چې هغوی د خپل تن د سر په توګه او په سر کې دسترګو پر ځای وښيئ او موږ يې له دی منع کړي يو، چې تر هغوی مخکې شو او نه يې لمن پرېږدو او په ډاګه يې ويلي " دين زما اهل بيت په

ينبو دروي او په هر نسل کې دوی امت د بې لارو له بې لارۍ سموي. پيغمبراکرم ويلي چې:
" د امامانو پېژندنه د دوزخ له اوره د ژغورنې لامل دی او له هغوی سره مينه له صراط نه د تېرېدو باعث گرځي او د هغوی د ولايت منل له عذابه امان دی.
( قاضی عياض، کتاب الشفاء، ٤ مخ آستانه چاپ ١٣٢٨ ه)
او ويلي يې دي: نېک عمله ته د ښو اعمالو سر ته رسول هله گټه رسولای شي، چې آل محمد وپېژني.
(طبراني په معجم اوسط کې را اخستي او سيوطي په احياء الميت بفضايل اهل البيت کې له هغه را اخستي دي او نبهاني په اربعين کې)
نبي مکرم او معظم ويلي: په قيامت کې له دې امته هر څوك، لا له ځايه نه وي ښورېدلای، چې د اهل بيتو له دوستۍ او مينې ترې پوښتنه ونشی ". او که څوك خپل ټول عمر د رکن او مقام تر منځ پر عبادت تېر کړي؛ خو له آل محمد سره دوستي و نه لري نو دوزخ ته به ځي.

د "ذی القربی "، "تطهره "، "اولی الامره"، حبل الله "او "کونو مع الصادقین " آیتونه دستور راکوي، چې د اهل بیتو لمن ونیسواو ورپسې لاړ شو.

د نبي مکرم او معظم د فرامینو په باب ټول مسلمانان یوه خوله دي؛ نو راځئ چې موږ ټول د اهل بیتو درناوی وکړو او څنګه چې د هغوی موقعیت او مقام را ته په ښه شوی، همغسې یې حق وپېژنو او داسې ولاړ شو.

موږ باید د څرګند نص له مخې د دین اصول او فروغ له عترته زده کړو؛ خو موږ له ابوالحسن اشعري، ماتریدي او نورونه اصول زده کړي او فروغ مو له څلورګونو فقهاوو اخستي دي، په داسې حال کې چې دوی عالمان دي او درناوی یې پر ځای دی؛ خو په دین کې دوی راته د دین مرجعیت په توګه نه دی ښوول شوي.

زموږ ګیله داده، چې ولې زموږ ورونه د اهل بیتو امامانو ته په ارزښت نه قایلېږي، له خوارجو، مشبهه مرجئه او قدریه و روایتونه کوي؛ خو له دوی نه، مقاتل بن سیلمان خدای ته پر جسم قایل و او مرجئی او مدور و، له هغه روایت کوي. دا ولې؟

صحیح بخاري چې د نبي مکرم او معظم له عترته کوم روایتونه نقل کړي که دا راټول کړو؛ نو د دروغجن عکرمه بربر بن رجی روایتونه په سر کې ډېر دي.
صحیح بخاري سره له دې چې د امام حسن عسکري همعصری و؛ خو د دوی پر احادیثو استدلال نه کوي اونه یې ترې روایت نقل کړی دی.
صحیح بخاري له امام حسن نه چې د نبي مکرم او معظم سبط او د جنتي ځوانانو ښاغلی دی، په خپل صحیح کې روایت نه دی راوړی؛ خو د اهل بیتو د ستر دښمن " عمران بن حکان " (چې د ابن ملجم په باب یې شعر ویلی او هغه جنایتګر یې ستایلی) نه یې روایت کړی. د شعر پښتو مغهوم یې دا دی:
" هغه پرهیزګار عجیبه ګوزار وکړ او جنت ته ورننووتو په تمه یې دا کار وکړ او زه چې هر ورځ هغه یادوم؛ نو داسې فکر کوم، چې د ابن ملجم نېک عمل به تر ټولو خلکو زیات وي "
په داسې حال کې چې نبي مکرم او معظم ویلي: لومړی بدمرغه هغه و چې د صالح علیه السلام اوښه یې

چوکړه او وروستی بدمرغه هغه دی، چې پر تا به گوزار کوي "

صحیح بخاري د نبي مکرم او معظم د سپېڅلې کورنۍ، نورو ستوریو لکه عبدالله بن حسن، علي بن جعفر او نورو نه هم روایتونه نه دي را اخسپي او پر دې سر بېره د اهل بیتو له رجالونه هم لکه: حسن بن حسن و زید بن علی بن حسین، یحیي بن زید محمد بن عبدالله بن حسن نفس زکیه، ابراهیم بن عبدالله، حسین بن علي، شهیدفخ، یحیي بن عبدالله بن حسن ادریس بن عبدالله، محمد بن جعفر صادق، محمد بن ابراهیم طباطبا، قاسم رسی، محمد بن محمد بن زید بن علي، محمد بن قاسم بن علي بن عمر، او اشرف بن زین العابدین چې د طالقانو حکمران واو د صحیح بخاري همعصري .

امام بخاري د نبي مکرم او معظم له لور (حضرت زهرا بي بي) نه یو روایت، له حضرت علي نه (۲۹) روایتونه، له عمار یاسر نه (٤)، له بلال (رض) نه (۳)، له سلمان فارسي نه (٤) له مقداد نه (۱)، له ابوز غفاري نه (١٤) له عبدالله بن جعفر نه (۲) روایتونه نقل کړي، په داسې

حال کې چې له ابوهریره نه ې ٤٤٦، له عبدالله ابن عمر نه ۲۷۰، له عایشه ام المؤمنین نه یې ۲٤۲ او له معاویه نه یې اته روایتونه نقل کړي دي.

امام جعفر صادق د امام باقر زوی، د علی بن حسین بن علي زین العابدین لمسی دی، چې د هغه او نبي مکرم او معظم تر منځه څلور ستر شخصتونه پراته دي، داسې چې دا ټول په علم تقوی او اخلاقو کې د زمانې بیلګې وي؛ خو د هغه روایت نه اخستل کیږي؛ خو نور چې د هغوی او د نبي مکرم او معظم تر منځ دولس ګونو ناپېژندل شوي وګړي پراته دي، د هغوی روایت منل کیږي؛ نو دین او عقل خو دا خبره نه مني.

د راوي لپاره دوه شرطونه دي: عدالت او دقت.

له عدالت څخه مطلب، پر اسلام ایمان لرل، عقل، بلوغ، له تباهۍ ځان ساتل او د داسې اعمالو نه کول دي، چې د سړي ځوانمردي پرې درواغجنه کیږي.

له دقت او ځیر نې مراد دادی: حدیثپوهانو، چې د حدیث اورېدو ته کوم معیارونه ټاکلي، هغه یې مراعات کړي وي او د هغه مخې یې حدیث یاد کړي وي او

روایت تر وخته پورې یې هغه یاد ساتلي وي (حفظ کړي وي).

خو په عمل کې دا قاعده پرځینو ځایونو کې تر پښو لاندې شوې د بیلګې په توګه:

(۱) اسماعیل بن عبدالله (ابو اویس) بن عبدالله (صبحی) ابو عبدالله مدني ابن معین د هغه په باب وایي: دوه پیسې ارزښت نه لري! هغه او پلار یې حدیث غلا کول هغه دروغجن او بې شخصیته دی. بخاري، مسلم و ابوداود، ترمذي او ابن ماجه ترې احادیث روایت کړي دي.

(۲) یسر بن ارطاة: ابن معین وایي: ناوړه سړی و. یسر د معاویه ملګری و، په حجاز اوعین کې یې د معاویه دښمنان وژلي، امام علي پرې لعنت ویلی. ابوداود، ترمذي او نسائي ترې روایتونه دي کړی.

(۳) ثور بن یزید بن زیاد حمصي

امام احمد حنبل وایي: امام مالك له هغه سره د ناستې پاسې منعه کړې او زاعي ورته بد ویلي. هغه د امام علي دښمن و؛ ځکه نېکه یې په صفین کې وژل شوی و، بخاري او نورو ترې روایتو نه را اخستي دي.

٤_ جراح بن مليح: ابن حبان وايي: سندونه يې سرچپه کول او مرسل روايتونه يې مرفوعه کول.
ابن سين وايي: دروغجن و او احاديث يې جوړول مسلم، ابو داود، ترمذي او ابن ماجه ترې روايتونه کړي دي.

٥_ حبيب بن ابي حبيب يزيد جرمي انماطي
ابن معين د هغه له روايتونو منعه کړې، مسلم، ابن ماجه او نسائي ترې روايتونه کړي دي.

٦_ حريز بن عثمان رجي حمصي
تورن دي، چې په رسول الله پسې به يې دروغ ويل او په علي پسې به يې کنځلې کولې، بخاري او نورو ترې روايتونه نقل کړيدي.

٧_ خالدبن سلمه العاص مخزومي په ضاء ضاء مشهور!
جوير وايي: هغه مرجئـه و، د علي دښمن و او د مروان د زوی اشعار يې ويل.

٨_ زياد بن عبدالله بن طيفل بکائي عامري
ابن مديني وايي: ضعيف دی. ابن معين ويلي: ارزښت نه لري، بخاري، مسلم او نورو ترې روايتونه را اخستي دي.

په دې باب هدی الساری (چې د فتح الباري سریزه ده او فتح الباري د صحیح بخاري شرحه ده) چې د بخاري په ډېرو راویانو یې نیوکې کړې؛ خو ابن حجر له هغه نه دفاع کړې.

نو پر دغسې ځینو راویانو چې د ثقه راوي صفات نه تطبیقېږي او " عدالت " هم نه لري؛ نو د هغوی په باب د احادیثو په ټولو کتابونو کې له سره نوی چاڼ وشي همدغسې که چېرته د حدیث متن هم وڅېړل شي او تر کره کتنې لاندې ونیول شي، چې له عقل او قرآن سره اړخ لګوي؛ نو دا خو بیا یو شمېر احادیث د سموالي له لیکې وباسي؛ ځکه نبي مکرم او معظم ویلي دي: لکه څنګه چې تر ما مخکې په پیغمبرانو پسې یې دروغ تړل؛ نو په ما پورې به یې هم وتړي؛ نو چې چا درته زما "حدیث" راووړ او د خدای له کتاب (قرآن) سره یې اړخ لګاوه؛ نو زما حدیث به

وي او که نه؛ نو نه به وي.

قرب الاسناد: ٤٤٠ مخ او مستدرک الوسایل ٣٠٤/١٧.

نو حدیث باید د " سند او متن " دواړو له پلوه یو ځای تر کره کتنې لاندې ونیول شي او د دا دود باید د

اسلامي ټولو حدیثي کتابونو په باب مراعات شي؛ که سني وي که شیعه او له نېکه مرغه دا غورځنګ پیل شوی او کار تر دې ځایه هم رسېدلی، چې د سني او شیعه دواړه ګڼ احادیث سره را ټول شویدي؛ خو بیا هم دې کار ته باید په نړیواله سطحه دوام ورکړل شي.

د حیث د متن د کره کتنې پیلامه هماغه د اصحابو کرامو تابعینو او فقهاوو په وخت کې وه، چې د بیلګې په توګه موږ ورته اشاره کوو او که څېړې اوس د حدیث متن کره کېږي؛ نو دا به په حقیقت کې څه نوی کار نه وي.

حاکم نشیابورې د مستدرك ۲۱۵/۲ کتاب العتق په خپل سند له عروه بن زبیر نه روایت کړی چې ویلي یې دي: عایشه بي بي خبره شوه، چې ابوهریره وایي: رسول اکرم (ص) ویلي دي:

۱_"که د خدای په لاره کې کوړو ته غاړه کېږدم؛ نو دا مې ښه ایسی تر دې چې حرموني ازاد کړم "

۲_ حرمونی په هغو درېو کې ډېر بدتر دي.

۳_ مړی ژوندی په ژړا عذابېږي.

عایشې بي بي وویل: خدای دی پر ابوهریره ورحمېږي، بد یې اورېدلي او بد ځواب یې ورکړی. د لومړۍ خبرې

کیسه داسې ده: کله چې د " فلا اقتحم العقبه وما ادریك ما العقبه فك رقبه [نو په هغه سخته مورگه یې گام کېښود او ته څه پوهېږې، چې هغه سخته غاړه څه ده؟ د مریي ازدول دي] آیت نازل شو، وویل شول: رسول الله (ص)! موږ مریان نه لرو، چې ازاد یې کړو، یوازې ممکن دی، چې ځینې موږ تورې وینځې ولرو، چې خدمت کوي او کارونه یې تر سره کوي؛ نو که وشي چې موږ هغوی ته د [زنا] حکم وکړو او بیا ترې اولاد وشي او بیا یې ازاد کړو. رسول الله (چې دا خبره واورېده) نو یې وویل: " که د خدای په لار کې کوږې ته غاړه کېږدم، دا راته غوره ده، چې د زنا حکم صادر کړم. او بیا حرمونی ازاد کړم. د دویمې خبرې کیسه داسې ده: یو منافق جناب سرور کاینات، حضرت محمد ځوراوه. جناب نبي مکرم وویل: څوك راته د دی ځورولو دلیل ویلای شي؟ " ورته وویل شول: رسول الله (ص)! دا " حرمونی " دی. رسول اکرم وویل: " حرمونی په هغو درېو کې ډېر ناوړه دی. " او خدای تعالی وایي: انعام ١٦٤ آیت: هېڅوك د بل د گناه پېټی پر اوږونه وړي. د درېیم حدیث پېښه اصلاً داسې وه: رسول اکرم

د يهودي د کور له وره تېرېده، چې خپلوانو يې ورته ژړل او (چې ژړا يې واورېده) ويې ويل: پر هغه ژاړي؛ خو هغه پر عذاب اخته دی " او خدای تعالی وايي: خدای هر چا ته د هغه د وسې هومره تکليف ورکوي .

په يو بل روايت کې راغلي، چې څوك له خپلې ښځې سره يو ځای شي؛ خو انزال نه شي؛ نو حضرت عمر فتوا ورکړه، چې د لمانځه لپاره دې اودس وکړي او خپله اله دې ووينځي (صحيح بخاري ٥٦/١ _ صحيح مسلم ٢٧/١، ٨٦) ځينو اصحابو ورباندی نيوکه وکړه (د احمد مسند ١١٥/٥) چې پردغسی انسان د حد د اجرا حکم کوي؛ خو يوه کوزه (صاع) او به ورته لازم نه بولي؟ هر وخت، چې دوه الی (ختنه گاه) يو ځای شي؛ غسل پرې فرضيږي (التهذيب الاحکام ١١٩/١، ٣١٤)

دا څو بيلگې مې؛ ځکه راوړې چې د روايتونو او احکامو په باب اصحابو يو بل نقدول او هغه روايتونه، چې د شريعت د ثابتو امورو او له عقل او فطرت سره يې اړخ نه لگاوه هغوی به ردول او دا شاهدي ورکول، چې زموږ په اسلافو کې روايتونو کره کتنه دود وه.

اوس دا پوښتنه کیږي، چې د کره کتنې حق یوازې له اصحابو پورې تړلی و که اوسني څېړونکي هم دا حق لري؟

استاد احمد امین (خیر الاسلام ۲۱۷ او ۲۱۸ مخونه) د حدیثپوهانو د دود په باب وایي:

" عالمانو چې د جرح او تعدیل لپاره کوم اصول جوړ کړي. د لته یې راخستی نه شو؛ نو دا حقیقت باید ووایو، چې هغوی د متن تر کره کتنی زیات سند تر نقد لاندې نیولی او داسې نقد پکې ډېر لږ لیدل کیږي چې وایي: څه چې نبي مکرم او معظم ته منسوب شوي له هغو شرایطو سره، چې دا خبره (د روایت له مخې) پکې ویل شوې اړخ نه لگوي یا تاریخي پېښې هغه نقصوي یا د حدیث یو ډول فلسفي تعبیر دی، چې د نبي مکرم او معظم له پېژندل شوي تعبیرونو سره سر نه خوري یا داچې حدیث په شروطو کې د فقهې متونو ته ورته دی او یا ددې په څېر نور نقدونه.

موږ په دې باب په سلمه برخه کې څه په لاس نه دي راوړي؛ لکه حدیثپوهانو چې د جرحې او تعدیل په باب لیکنې کړې دي، تر دې چې بخاري په موشگافۍ او

ځېرنه کې د لوړ مقام په لرلو سره سره، دا چې يوازې يې رجال تر نقد لاندې نيولي؛ نو داسې احاديث يې په خپل صحيح کې راوړي، چې تاريخي پېښې او تجربي شواهد يې ناسموالي راښيي "

داکتر صلاح الدين ادبي په خپل کتاب " ضحى الاسلام " کې د استاد احمد امين خبري داسې رانقلوي:

(محمد ثانو د حديث د بهرنی اړخ نقد ته زياته پاملرنه کړې او دننني اړخ ته يې دومره پام نه دی گرځولی، هغوی د جرحې او تعديل له اړخه د حديث نقد تر لوړو پولو رسولی دی. د حديث راويان يې له دې اړخه، چې ثقه دي يا غير ثقه تر کره کتنې لاندې نيولي او د وثاقت درجې يې ورته په ډاگه کړي دي او پردې يې بحث کړی، چې ايا راوي له نقلوونکي سره ليده کاته کړي يا نه او پر همدې بنياد يې حديث په صحيح، حسن، ضعيف، مرسل، منقطع، شاذ، غريب او...... ويشلي دي؛ خو د حديث دننني اړخ يې نقد کړی نه دی، چې ايا د حديث متن له واقيعت سره اړخ لگوي که نه.

هغوی، هغوسياسي عواملو ته اشاره نه ده کړې، چې د هغوی له مخې يې حديث جوړ کړي دي او هغه

احادیث یې نه دي نقد کړي، چې اموي، عباسي یا علوي حکومتونه به تاییدوي او یا یې د نبي مکرم او معظم او خلفای راشدینو د زمانې ټولینز شرایط شنني وي او د اموی او عباسي خلقاوو حالاتو او اختلافاتو ته یې اشاره کړې وي، چې له دې لارې پوه شي، چې دا حدیث په هغو اجتماعي شرایطو کې چې ویل شوي، اړخ لګوي که نه. مخکېنیو عالمانو د راوي انګېزو، نیت، شرایطو او جمعیت ته چې هغه یې د حدیث جوړېدو ته اړ ایستلي، دومره پام نه دی کړی "
او تر دې خبرو وروسته وایي: که چېرې محدثینو د متن نقد ته پام کړی وای؛ لکه چې د مسند نقد ته یې خپل ټول پام ګرځولی و؛ نو اوس به موږ ته د ډېر جوړو شویو احادیثو حقیقت معلوم شوی وای؛ لکه د مناقبو روایتونه، چې د شخصیتونو، قبایلو او د مذاهبو د لارویانو په باب ویل شوي او ګټه یې یوازې جوړوونکیو ته رسېدله، چې په دې سیالۍ کې یې برخه لرله او د حدیثي کتابونو زیاته برخه له همدې شان روایتونو نیولې ده.

اولي بيا د ابن خلدون (د ابن خلدون سريزه نهم ټوك) خبره راولي چې: " د حکايتونو او پيښو په رااخستو کې تاريخپوهان او مفسرانو ډېرې تېروتنې کړې هر سره او ناسره حديث يې نقلاوه او دا حديث يې له اصولو سره نه تله او نه به يې د هغه په څير حديث سره پرتله کاوه او نه به يې د حکمت غوره اندې، پوهې او عقل پرتله، تله، چې د هغه په باب يې سم قضاوت کړی وای؛ نو ځکه له حقه لرې شوي ".

فهج نقد المتنن ١٢ مخ _ ظهر الاسلام ١٣٠/٢_١٣٣

احمد امين (ظهر الاسلام ٤٨/٢) ليکي:

"پر ړومبنيو يوه بله نيوکه داده، چې سند ته يې تر متنه ډېر پام و، کله داسې هم شوي، چې د حديث په مسند کې په خورا پټ او ماهرانه ډول تدليس او لاسوهنه شوې او په همدې دليل يې [پرته له دې چې پر چل او تدليس پوه شوي وي] حديث منلی، په داسې حال کې، چې عقل يې ان واقعيت نه مني او کلنه داسې هم شوي، چې دغسې احاديث ځينو محدثينو صحيح او سم گڼلي، يوازې په دې دليل چې سند يې سم دی او جرحه او تعديل پکې نشته (بخاري او مسلم دواړه

دغسې نيمګړتياوي لري) په داسې حال کې، چې که دا ډول احاديث د اسلام له بنسټيزو اصولو سره وتلل شي؛ نو بيخي ورسره اړخ نه لګوي، که څه هم اسنادېې سم وي ".

لنډه خبر دا چې د حديث د سموالي لپاره بايد يوازې پر سند اکتفا و نه کړو، بايد متن يې هم نيمګړتيا و نه لري او له افتونو څنې خوندي وي، چې دغسې حديث ته سم حديث ويلای شو.

دلته د مسالې د څرګندولو لپاره ورځنې مثال راولو: څوك تاسې ته د بل چا له خولې خبر راوړي؛ نو لومړی څيز چې ستاسې ذهن ته راځي، و خبريال امانتوالی، خوی او د هغه د شخصيت نور اړخونه په پام کې نيسئ او د هغه پر رښتينولۍ ډاډ مومئ، بيا ور پسې " خبر" ته ګورئ او هغه د خبريال د ټولو ويناوو، کړنو او نورو شرايطو سره سنجوئ؛ نو که دا ټول عوامل سره هم غږي شول؛ نو پر خبر مو ډاډ حاصلېږي او که همداسې پايلې ته و نه رسېدئ؛ نو حق لرئ، چې د خبر په منلو کې ښنه نيولي شئ، په دې دليل نه چې د خبريال په رښتينولۍ کې مو شك کړی؛ بلکې له دې امله چې په خپله خبر

کې را ته شبهه پیدا شوې او دا شهبه احتمال لرلي، چې تېروتی وي یا څه ترې هېر شوي وي او یا ممکن ناڅرګنده عوامل وي، چې د متن د خبر پېرېدو باعث ګرځېدلي وي؛ نو له دغسو سره چې مخ شو؛ نو د خبر په منلو کې لږ درنګ کوو، تر هغې، چې له رښتینولۍ نه یې ډاډه شو؛ البته په داسې حالاتو کې سمدستي د خبر په دروغوالي پرېکړه نه کوو؛ ځکه چې دا خو به پر هغه چا تور وي، چې له دې خبر پرته پر هغه مو ډاډ دی، چې رښتین دی.

پورته مثال راښیي، چې د نبي مکرم او معظم (ص) د احادیثو په باب محدیثونو هم له دغسې حالاتو سره مخ وو.

نقد الحدیث ۱/۴۳_۴۳۲ _ ډاکتر حسین حاج حسن د بیروت د وفا موسسې چاپ.

کافي د امامیه شعیه وو یومصدري حدیثي کتاب دی، د خدای تعالی د قدرت په باب پکې روایتونه راغلي، چې دهغه په ځواب کې سید مرتضی شیعه ستر عالم وایي:

" پوه شئ، څه چې په روایتونو کې راغلي، د هغو ټولو منل واجب نه دي که دا زموږ په کتابونو کې وي یا نورو

کې؛ څکه یو ډول تېروتنې او ناسمې پکې شته... نو څکه حدیث لومړی باید د عقل پر محك وسنجول شي او نقد شي او چې له دې پړاوه راووت، په سمو دلایلو؛ لکه قرآن او د هغه له هم سنګي سره وتلل شي او تر دې پړاوه وروسته که څه نیمګرتیا پکې پاتې نه شوه؛ نو روا ده، چې حق یې وګڼو او روای یې هم رښتین وګڼو، داسې نه ده چې هر روایت به حق وي او بل داچې هر روایت، چې د واحد خبر له لارې رسېدلی وي، دا یقین پرې کولای شو، چې راوي به رښتیا ویلي وي ".

رسائل الشريف المرتضی (المجموعه الاولی)، جوابات المسائل الطرابلسيات الثالثه، ۱۳ مساله، ٤۱۰ مخ.

نو له همدې امله د حدیث متن باید وسپړل شي، ځیرنه په کې وشي او پردې سربېره واقعیت او د پېښو منطق هم کولای شي، چې د ځینو احادیثو متن ناسم جوت کړي او یا په کومې سیاسي یا ټولنیزې فضا کې، چې حدیث ویل شوی، دا فضا یې هم ناسموالی په ډاګه کولای شي، که د حدیث متن، له هغو شرایطو او اوضاع سره، چې دغه متن په کې ویل شوی، له هغه چاپېریال سره چې راوي پکې ژوند کاوه او هم د وخت له واکمن

سیاسي او ټولیز حالت او د نقل کوونکیو له انګېزو سره وسنجول شي او هر ډول قومي او سیمه ییزو تعصبانو پرته د اسلام او بشري فطرت له اصولو سره وکتل شي؛ نو هله یې راته سموالی او ناسموالی په ګوته کېږي او لوستونکي ته په ډاګه څرګندېږي، چې ډېر احادیث د واکمنو د فقهي او سیاسي لیدونو په لاروۍ جوړ شوي دي او په عین حال کې همدا احادیث زموږ د مشرانو په کتابونو کې راپاتې دي او چاپېږي له دې اړخه نقد نه دی کړی؛ البته په احادیثو باندې د عقل احکام تطبیقول، چې د قرآن یا سنتو ملاتړ ورسره نه وي، له شریعت سره اړخ نه لګوي او خدای پرې نه راضي کېږي؛ ځکه چې شرعي احکام تعبدي او توفیقي چارې دي او د تشریع سرچینې هم همداسې دي. د قرآن د صدور په باب څه خبره نشته، د هغه صدور قطعي غوڅ او پرېکنده دی؛ خو د سنتو صدور ظني دی او لازم دي، چې په سند او دلالت (په متن) کې یې څېرنه وشي او د حدیث د متن په څېړنه کې واکمن سیاسي اوضاع هم په پام کې ونیول شي او حدیث د اسلام په ثابتو اصولو وتلل شي او حدیث د سند او متن دواړو اړخونو له مخې وڅېړل

شي، داسې چې یو اړخ ته یې پام وکړو او بل ته شا؛ بلکې د حقیقت د بربنډولو لپاره د د واړو اړخو څېړل ضروري دي.

باید ووایو، چې زموږ له نظره د متن څېړنه یا د یو صحابي د خبري نقدول هغه ته فاسق یا کافر ویلو په معنا نه ده، ، په تېره، کله، چې له دې نقد سره د قرآن او یا سنتو ملاتړ هم وي یا داچې تاریخي متون او د متن د صدور زمانې سیاسي واکمنه فضا هم د نقد تر شا وي. همدارنگه که هر ځای کې د چا خبرې را اخلو؛ نو په دې مفهوم به نه وي، چې د هغه ټولې خبرې مو رښتیا گڼلې او په هر اړخیزه توگه د هغه د افکارو ننگه او ملاتړ کوو.

په پام کې مو وي، چې د حدیث جوړولو پېښه د رسول اکرم (ص) له زمانې پیل شوې او د هغه مبارك تر رحلت وروسته خلفاءراشدینو د زمانې په وروستیو کلونو کې د " ستری فتنې " د راولاړېدو او به بیلابیلو ډلگیو او مسلمانانو د ویش له امله پراخه شوه؛ نو ځکه په دې پړاو کې د دیني متونو څېړنه خورا ارزښتمنه ده، ، په تېره، چې دا احتمال هم ومنو، چې هوسونو او سیاسي

هیلو په دې کار کې لاس درلود او د صحابي یا راوي تېروتنه او اشتباه د احکامو په پوهېدو کې هم ممکنه وه، په داسې حقیقت کې چې څوك یې له تصوره لرې نشي ګڼلای او مخکې مو هم څو مثالونه راوړل، چې اصحابو یو بل نقدول او یا ځینو د مقابل لوري د قوي دلیل له مخې او یا دا چې دلیل یې د قرآن او سنتو سره اړخ لګوي؛ نو له خپلې رائې ګرځېده.

اصولاً په اسلامي فقه کې داسې ډېر نظریات شته، چې باید د هغه په باب ځېرنه وشي او د دلالت او متن په باب له سره نوې کتنه وشي، که هغوی له قرآن سره وسنجوو او یا یې له تاریخي پېښو او یا یې له نورو روایتونو سره پرتله کړو؛ نو خپله به پر خپلو نیمګړنو اقرار وکړي، زه یقین لرم که همدا دلایل او شواهد د هغو نظریاتو خاوندانو ته وړاندې شوي وای؛ نو ممکن چې هغوی له خپلو فتواوو ګرځېدلي وای؛ لکه چې سترو اصحابو او تابعینو دا کار کړی دی.

نو ځینو چې د روایانو اسنادو او متن ته شاکړې او هر څه چې ورته را رسېدل د سپېڅلتیا او تقدس جامې یې ورته اغوستې او بیا یې ورته "تاویلونه" جوړ کړي، چې

ځوك پرې باور كولاى نشي؛ نو دا داسې كار دى، چې
نه وجدان پرې راضي كيږي او نه يې عقل او شرع مني!
امام مسلم ابن حجاج قشيري نيشاپوري د خپل صحيح
(١٥/١) په سريزه كې له محمد بن سيرين، ستر تابعي نه
د "سترې فتنې" په باب را اخلي چې:
"... مخكې به يې د حديث د سند پوښتنه نه كوله؛ خو
بيا چې فتنه پېښه شوه ويل به يې: د سند راويانو او
رجالو نومونه راته واخله؛ نو كه راوي به اهل سنت و،
حديث يې مانه او كه اهل بدعت و، حديث به يې
پرېښووه".
ډاكتر مصطفى سعيد الحن وايي:
" د ابوبكر او عمر رضي الله عنهما په زمانه كې
اختلافات ډېر لږ وو او علت يې داو، چې اصحاب نورو
ښارونو او ځايونو ته خپاره شوي نه وو او خليفه په
مهمومسالو كې له هغوى نه پوښتنه كوله.
ميمون بن مهراب ويلي: ابوبكر صديق ته به چې كومه
مساله پېښه شوه؛ نو حكم به يې د خداى په كتاب كې
كاته او كه حكم به نه و؛ نو د رسول اكرم سنتو ته به يې
مراجعه كوله او كه په دې كې به حكم هم نه و؛ نو له

خلکو به یې پوښتنه کوله، چې رسول الله په دې مساله کې حکم کړی که نه؟ او ښايي چې ځينو به ویل چې رسول اکرم داسې حکم کړی دي.

خو که داسې سنت یې نه مونده، چې پېغمبراکرم ایښی و؛ نو مشران به یې راغونډول او چې یوه خوله به شو؛ نو بیا یې هغه حکم عملي کاوه. حضرت عمر (رض) هم دا کار کاوه؛ کله به چې د یو حکم به باب له قرآن او سنتو پاتې راغی؛ نو پوښتنه یې کوله، چې ابوبکر دې باب څه حکم کړی دی؟

نو بیا یې پر هماغه حکم کاوه او که نه خلك یې راټولول او د ټولو تر خوښې وروسته یې حکم جاري کاوه (اعلام الموقعین ٦١/١) د شیخینو تر پېر وروسته د اختلافاتو لمن پراخه شوه او اصحاب فتح شویو ځمکو او ښارونو ته ولاړل چې دې کار هم د اختلافاتو په لمن وهلوکې ونډه لرله او بیا ورو ورو خلکو له اصحابو د نبي مکرم او معظم احادیث اورېدل او ممکن چې د یو اورېدلي به له بل سره نه وو."

اثر اختلاف فی القواعد الاصولیه فی اختلاف الفقهاءُ ٣٦ او ٣٧ مخونه.

نو ځکه په فقهي چارو کې ، په تېره، د هغو متونو په باب چې د سترې فتنې په وخت کې ویل شوي او یا له سترې فتنې سره اړه لري او یا هغه ته راګرځي؛ نو باید چې د متن د راوي پر کره کتنې سربېره متن یې د هغه له څیر نورو متونو سره پرتله شي او د هغې زمانې واکمن سیاسي شرایط هم په پام کې ونیول شي.

**د بې ازار شيرازي په همبستګي مذاهب اسلامي کتاب**

**استاد محمد جواد مغنيه لبناني شيعه عالم څرګندونې مو په پښتو اړولي، چې لولو يې:**

د شيعه و له نظره پر حديث عمل او شرايط يې:

د اسلام د اصلي او فرعي احکامو سرچينې دا دي:

١_ کتاب (قرآن مجيد) ٢_ سنت ٣_ اجماع ٤_ عقل

سنت: د فقهاوو په اصطلاح د پېغمبراکرم ويناوې يا کړنې يا تقرير ته وايي او د تقرير معنا رضايت او موافقت دی.

د ثابتولو دلايل:

د پېغمبراکرم رضايت او موافقت (تقدير) کله له قرآن، اجماع او عقله تر لاسه کوو او کله موافقت (او همدارنګه) د پېغمبراکرم ويناوې او کړنې په اطيمناني او ډاډ منه لار د روايت له مخې تر لاسه کوو.

موږ دلته د روايت له لارې د " سنتو " د اثبات لپاره دشيعه شرايط څرګندوو:

شيعه عالمان عقيده لري، چې د نبوي سنتو د لټولو لپاره ګومان او اجتهاد روا نه دی، چې د هغه د اثبات لپاره پر

خپل شخصي تبحر او اجتهاد تکیه وکړي او یا دا چې یوازې د راوي پر خبر، چې که هر څوك او هر څنگه وي اعتماد وکړي؛ بلکې عقیده لري، چې سنت په دوو څیزونو ثابتیږي:

(الف) _ متواتر خبر او (ب) واحد خبر.

**(الف) _ متواتر خبر (روایت)**

ډله ییز (جمعي) روایت دی، چې معمولاً د شمېر له اړخه محال دی، چې پر دروغو به یې روایت کړی وي.

په دې شرط، چې دا تواتر په ټولو دورو کې یو ډول وي او په لومړي پیر (دوران) کې چې له نبي مکرم او معظم نه بې له واسطې اخستل شوی وی. دا تواتر مراعات شوی وي او همدارنگه په نورو دورو کې، دویمې، درییمې او.....

ټول عالمان یوه خوله دي، چې په متواتر روایت کې د راویانو عدالت شرط نه دی او همدارنگه د راویانو شمېر یې ټاکلې اندازه نه لري؛ بلکې مهه دا ده چې یقین وکړو، چې هلته به پر دروغو دسیسه نه وي شوی او طبعاً

د علم مقید هم وي، داسې چې یو معتدل او منځ لاری سړی پرې خبر شي، چې د سنتو پر شتون یقین وکړي. او که داسې څوك پرې خبر شي، چې د کوم دلیل له مخې ورته علم حاصل نه شي او هغه تواتر ورته حجت دی او لازم دی، چې عمل پرې وکړي.

**(ب) ـ واحد روایت یا خبر:**

د عالمانو په اصطلاح هغه روایت، چې د تواتر تر پولې نه وي رسېدلی، ورته واحد خبر وایي. که راوي یې یو تن وي یا ډېر او دلته له واحد نه مطلب، د تواتر نه شتون دی نه د شمېر نه شتون او په بله وینا: متواتر (اخذ به شرط لا) یعني د شرط په تواتر شتون به شرط وي او خبر (روایت) په دواړو کې شاملېږي (لا شرط) یعني نه تواتر او نه د تواتر شتون په هغه کې شرط دي او له همدې امله ویلي یې دي:

" هر یومستفیض روایت او مشهور روایت د واحد روایت یو ډول دی "

مستفیض د فقهاوو په اصطلاح هغه خبر دی، چې له دود یا زیاتو راویانو روایت کړی وي او د تواتر تر حده نه وي رسېدلی.

مشهور، هغه روایت دی، چې د خلکو په خولو کې وي او په کتابونو کې مشهور شوی وي که څه راوي يې يو تن وي.

نو ځکه استفاضه د راوي صفت دی او شهرت د روایت صفت وي؛ خو هغه روایت، چې د هغه په باب له بهرني یا دنننی قراینو نه د سړی علم راځي (لکه انما الاعمال بالنیات، ولکل امر مانوی عملونه په نیتونو پورې تړلي دی او چا چې د څه نیت کړی وي، هماغه به ورته وي) او دا ډول روایت بې له څه نیمګړنې معتبر روایت دی؛ البته نه د شهرت، استفاضه، تواتر یا بل څه له امله؛ بلکې له دې امله چې علم او یقین موږ ته راښیي، چې هغه په غوڅه توګه سم روایت دی؛ ځکه دا علم پخپله حجت دی، پرته له دې چې څوك يې حجت ونیسي او په دې توګه څرګندېږي هر یو متواتر روایت او قرینې ته نږدې روایت په غوڅه توګه ګټور دی او علماء یوه خوله دي، چې باید هغه ومنو او وربانديې اعتماد وکړو؛ خو هغه

روایت، چې د تواتر پولې ته نه وی رسېدلی او په صدور یې عام او پوهه نه لرو، له بېلابېلو لارو د تر بحث لاندې دي:

(۱) _ د هغه د صدور په باب چې د سنتو له خاونده صادر شوی، چې څو ډوله دي. صحیح _ ضعیف _ حسن _ موثق.

(۲) د صدور له پلوه او دا چې د بیان لپاره دی، یا یې یو جز او یا برخه ده.

(۳) د هغه په متن کې کومه معنا یې، چې له لفظه څرګندیږي.

(٤) ددې څرګندېدو په اراده کې او د هغه پر اعتبار باندې دلیل او عمل کولو لپاره.

دلته موږ پر دې بحث کوو، چې د روایت پر صدور یقین نه لرو؛ نو د هغه سند شرایط کوم دي، چې خبر د سنتو خاوند (پیغمبر _ امام) ته رسولی دی.

او دا باید ووایو، چې په حدیث کې مهم څیز اسناد دي؛ ځکه چې د سنتو بنسټ او بیخ دي.

شرایط:

له یو شمېر امامیه وو پرته؛ نور ټول پر دې یوه خوله دي چې حدیث د راوي په روایت ثابتېږي؛ خو ځینې وایي: له هر هغه روایت (خبر) نه چې د شرعي حکم گومان یا د روایت حجیت حاصلېږي؛ نو هغه حجت دی، باید پیروي یې وشي، که راوي موثق وي یا غیر موثق او داسې دلایل وړاندې کوي:

"لکه څنگه چې د قرآن کریم لاروي ده، دغسې د سنتو لاروي او عمل ورباندې کول هم واجب دي، اوس؛ نو که روایت راته په غوڅه توگه څرگند شو؛ خو ډېر ښه او کنه د هغه د معلومولو لپاره گومان ته مخه کوو؛ یعني پر موږ لازمه ده، چې الهې قوانین د علم او یقین له لارې تر لاسه کړو او لاروي یې وکړو او که دا لاره نه وه؛ نو واجب دی، چې (علم ته) له نږدې لارې ځان مطلب ته ورسو او هغه گومان دی".

او دا په حقیقت کې د گومان لاروي ده؛ نه د واحد روایت او پر گومان عمل کول یې دلیله عمل دی؛ بلکې د عمل د تحریم لپاره دلیل پر گومان ولاړ دی او دا چې په حجیت او د یو حکم په قاطعیت کې مازې شك، هر څه، چې وي، د هغه پر "نه حجیت" دلیل دی، پردې

سربیره، چې قرآن مجید وایي: " ان انطف لایغنی عن الحق شیئا، ګومان کله هم انسان له حق نه بې نیازه کوي.
په هر حال شیعه عالمانو هغه ځانونه استثنا کړي، چې هلته یې پر ګومان باندی عمل حرام کړی، چې د هغوی پر اعتبار باندې غوڅ دلایل راوړل شوي وي.
مثلاً که راوي مسلمان، عاقل، بالغ، موثق او د ضبط خاوندوي؛ نو له خبر نه تر لاسه شوی ګومان سم دی.
اسلام یې له دې امله شرط ګڼلی، چې د محمد مصطفی د رسالت درناوی یې کړی وي او پر هغه ایمان لري، که څه هم چې یو نامسلمان د ویناوو په نقل کې له ځینو مسلمانانو ډېر رښتین وي او ضروري ده، چې د لېوني (مجنون) او ورکوټي (نابالغ) پر روایت اعتماد نه کیږي.
او په نقل کې یې اطمینان او امانت له دې امله شرط او قید کړی، چې له دروغو یې ځان لری ساتلی وي او د ضبط او حفظ قوت له دې امله دی، چې هېرونکی (فراموش کار) سړی ممکن څه ورزیات یا لږ کړي او یا په روایت کې بدلون راولي.

# قوي او ضعيف

سني او شيعه دواړه عقيده لري، چې په احاديثو کې يې قوي، ضعيف، سم او ناسمه شته؛ نو له همدې امله يې "علم رجال" رامنځ ته کړی او د راويانو چاڼ لپاره يې په لسګونو کتابونه کښلي، محقق قمي (قوانين ۲۲۲ مخ، دويمه برخه د ۱۳۱۹ ه کال چاپ) وايي:

" که څوك دا ادعا کوي، چې ګڼې زموږ ټول روايتونه سم دي؛ نو د حيرانتيا خبره ده، زموږ په کتابونو کې داسې روايتونه شته، چې په دې شاهدي ورکوي، چې دروغجنو او مغرضانو د کتابونو ته اصحابوکې ننوتي او لاسوهنې يې کړې دي.

شيخ انصاري په الرسائل کتاب کې (چې په نجف، قم او نورو ديني حوزو کې تدرسيږي) روايت کوي چې امام جعفر صادق وايي:

((موږ نبوي کورنۍ رښتيني يو؛ خو له داسې دروغجنو خالي نه يو، چې دروغ راپورې کړي، ځينې خلک دې ته ناست دي، چې په موږ پسې دروغ وتړي او ته وا، چې خدا ورباندې دا کار واجب کړی دی او بې له دې

بل څه يې ترې نه دي غوښتي.....هو! موږ هر يوه ته دروغجن شته، چ دروغ راپورې تړي.))

د سفينة البحار خاوند د"حدث" مادې په لومړۍ برخه کې نقلوي، چې:

ځينو بصره والو جعلي احاديث راټول کړل او امام ته يې وړاندې کړل.

او د نهج البلاغې په يوې خطبه کې امام علي وايي: منافق هغه دی، چې په لوی لاس په جناب سرور کاينات، حضرت محمد پورې له دورغو تړلو څخه باک نه لري.

د شيعه وو ډېر مهم کتاب "کافي" دی، چې "کليني" تاليف کړی دی؛ خو بيا هم علماوو يې ډېر احاديث کمزوري ګڼلي دي.

علامه مجلسي د کافي په شرح کې ضعيف احاديث شمېرلي، چې څو زرو ته رسي او زه، چې همدا اوس دا څو کرښـې ليکم؛ نو د اصول کافي ۳۰ لومړني احاديث مې غوره کړل، چې پکې ۱۳ ضعيف، ۸ مرسل، د (۲) احاديثو راويان مجهول او پاتې ۷ يې سم دي. حال داچې د کافي شارح علامه مجلسي د کافي په ستاينه

کې وايي: ((اصول ضبط او راټول کړي دي او دا د امامیه و له سترو او مضبوطو تالیفونو څنې دی.))

نو ایا تردې وروسته بیا هم ویلای شو، چې د امامیه حدیثي کتابونه ټول سم دي یا په شیعه و کې داسې کتاب شته، چې له پیله تر پایه پورې ټول د مخې سم وي؟

که داسې وي؛ نو باید د کافي د حدیث له مخې پر امامي مجتهد باندې د بل مجتهد دلیل راوړل؛ لکه د قرآن کریم د آیتونو دلیل غوندې وي. سره له دې، چې په کافي یا نورو کتابونو کې هر حدیث، چې د امامي مجتهد له نظره سم او صحیح نه وي هغه رد کړی او بخاری یا مسلم نه کار واخلي او څوك نشي کولای پر هغه باندې د دین او مذهب له پلوه نیوکه او احتجاج وکړي.

## څوك د اهل سنتو له نظره موثق دی؟

د "الشيعه والتشيع " په کتاب کې ليکلی:

" يو ورور رانه پوښتنه وکړه: ايا دا سمه ده، چې د اهل سنتو شرط دا دی، چې راوي ته نه ښايي چې د تشيع بوی ورسېدلی وي؟ ايا د اهل سنتو په کتابونو کې دا ويناوې کوم اخځليك لري؟

ورته مې وويل: دا د هغوی د متعصبينو نظريه ده او په ټولو اهل سنتو کې عموميت نه لري.

غزالي په المستصفی کتاب کې له شافعي رحمة الله عليه نه نقل کوي چې: " بې له خطابيه و (١) د هوی او هوس د لارويانو شهادت منل کېږی، رافضي د خپلو هم مذهبودباطلو او دروغو شهادت رواګڼي.

حضری په اصول الفقه کې وايي:

" د اهل سنتو ډېر عالمان پردې عقيده لري، د چا چې بدعت د کفر ترحده نه دی رسېدلی، روايت يې بايد ومنل شي او دا له عقل سره اړخ لګوی، تر هغه پورې، چې هدف يې دروغ ويل نه وي؛ البته فکر نه کوم، چې

د مسلمانانو یوه ډله هم داسې موخه او هدف ولري که څه خطابیه ډلې ته یې اشاره کړې وي، چې د هغوی مرام دا دی چې د خپلو پیروانو او مخالفینو پرخلاف شهادت ورکوي "

او داهل سنتو د شپږ گونو کتابونو خاوندانو له شیعه رجالو (ربان بن ثعلب، جابر جعفي، محمد بن حازم او عبیدالله بن موسی) څخه هم راویتونه را اخستی دي.

[یادونه: خطابیه ډله ابی الحطاب میرتعلاص ته منسوبه ده، چې د امام جعفر صادق په وخت کې اوسېده، امام ورباندې لعنت ویلی دی، د اهل بیتو په احادیثو کې راغلي، چې خطابیه پر یو بل باندې د باطلو شهادت ورکوي]

هغه څه، چې د اهل سنتو عالمانو تر منځ معمول دي، دا د شیعه عالمانو تر منځ هم دي؛ یعني ځینو شرط ایښی، چې راوي (که امامي وي یا نه) پر وثوق، اطمنیان او رښتینولۍ باندې بسیا دي. له دې جملې نه علامه حلي په الخلاصه کتاب کې او د قوانینو لیکوال په لومړي ټوك کې داسې څرگندونې لري:

د غیر شیعه و موثقه وګړیو روایتونه د منلو دي؛ ځکه د روایت ثابتېدل په خبر کې د راوي د حال له څېړنې نه معلومېږي او دا چې د راوي حال او څرنګوالی جوت شو او په ډاګه شوه، چې د خبر په نقلولو کې دروغ نه وایي؛ نو په رښتیا چې دا روایت ثابت شوی دی. "
سیدقزویني د قوانینو د کتاب د دویم ټوك په حاشیه کې لیکي: داڅه چې د اعتبار وړ دی، د هغه څه په لاس راوړل دي، چې د روایت په رښتینولۍ کې د وثوق او اطمنان باعث وګرځي ". د اعتبار مساله داده، چې د روایت په رښتیا ویلو کې سړي ته اطمنان پیدا شي "
په تنقیح المقال (۲۰۶/۱) کې راغلي:
له امام نه سم خبر را رسېدلی، چې موږ باید د خپلو مخالفینو نه روایت ومنو او هغه یې چې خپله رایه او نظریه ده، هغه پرېږدو؛ نو پر موږ لازمه ده، چې د دغسې موثقو وګړیو (چې د علماوو په اصطلاح ورته غیرامامي ثقه وایي) په ویناوو عمل وکړو "
شیخ انصاري د رسایلو په کتاب کې د واحد خبر به باب وایي: امام صادق ویلي دي: " څه چې روایتوي و یې منئ اوهغه یې چې رایه او نظر دی، پرېږ یې دئ. "

انصاری زیاتوي: موږ ته متواتر روایتونه رارسېدلي، چې ثقه او اطمناني روایتونه به منئ. "
سید محمد تقي حکیم (الاصول العامه ۲۱۹ مخ لومړی چاپ) لیکی:
" شیعه د موثقو او اطمیناني راویانو روایتونه حجت او معتبر ګڼي که څه ورسره هم عقیده نه وي او دې ډول روایتونو ته یې موثقات ویلي دي او دا روایتونه د نورو غوندې حجت دي، چې کتابونه یې ترې ډك دي "
نو ځکه په ډاګه شوه، چې سني او شیعه عالمان پر حدیث باندې د عمل کچه د راوي په وثوق، رښتینولۍ امانت او اطمنان پورې تړي، چې د روایت په نقل کې یې باید ترې کار اخستی وي، راوي که سني وي یا شیعه.
لکه څنګه چې مؤمن انسان په حکمت پسې ګرځي او هر چیرې چې وي، لټوي یې او په لاس یې راوړي.
[یادونه: امامیه و احادیثو ته خورا اهمیت ورکړی او په دې باب یې ډول ډول کتابونه کښلي. په لومړي ډول کې یې د حدیث ټول الفاظ راټول کړي، په دویم ډول کې یې دراوي احوال او څرنګوالی او دا چې راوي موثق او

امین دی یا نه بحث کړی دی، چې دا هماغه "علم رجال" دی او په دریېم ډول کې یې په عمومي توگه د حدیث په باب بحث کړی او ویلي یې دي: که حدیث داسې وي؛ نو حکم یې دا دی، چې دې ته یې "علم درایه " ویلي دي.]

## د اهل سنتو په کتابونو کې د پخوانیو راوي

## شیعه و شمېر[1]

دلته د امامیه شیعه و د هغو راویانو نومونه را اخلو، چې د اهل سنتو په سترو کتابونو کې ترې روایتونه اخستل شوي دی، د موضوع لنډوالي لپاره یوازې د راوي نوم او د هغه کتاب نوم لیکو چې د دوی ژوند لیك په کې راغلی دی.

۱- ربان بن تغلب (تهذیب التهذیب ۹۳/۱ ابن حجر عسقلاني)

[1].دا برخه اخستل شوې ده له : محمد علي کرمانشاهي د سنتة الهدایه الهدایة السنة د کتاب له ۲۵-۲۹ مخونو څخه.

۲- ابراهيم بن محمد بن سعيد ثقفي (د سمعانی النساب ۵۱۱/۱)

۳- ابوالاسود دُئلي (سيوطي په طبقات النجاة کې د هغه حالات شرح کړې ده)

٤- ابوالوليد کناني چې اصلي نوم يې عبدالله بن محمد دی (سمعانی النساب ۹۹/۵)

۵- احمد بن حسين بيهقي (معجم البلدان ۵۳۷/۱)

٦- احمد بن علي بن شعيب ابو عبدالرحمن نسائي (د ابن خلکان وفيات الاعيان ۷۷/۱)

۷- احمد بن منير طرابلسي (د پورته کتاب ۱۵٦/۱ - ٤۵۸/٤)

۸- اسماعيل بن موسی الغزاری (ذهبي تاريخ الاسلام ۱۸۷/۱۸، ميزان الاعتدل ۲۵۱/۱)

۹- اسماعيل بن محمد حميري (پورته کتاب ۳٤۳/٦)

۱۰- تليد بن سليمان (ميزان الاعتدل ۳۵۸/۱ - تهذيب التهذيب ۵۰۹/۱)

۱۱- ثوير بن ابی فاخته (ميزان الاعتدل ۳۷۵/۱ - تهذيب التهذيب ۳٦/۲)

١٢- جابر بن يزيدجعفي (سنن ابي داود ٢٧٢/١ - تاريخ الاسلام ذهى ٦٠/٨ - تهذيب التهذيب ٤٦/٢)

١٣- جعفر بن سليمان ضُبيعي (ميزان الاعتدل ٤٠٨/١، ٤١١ تهذيب الاتهذيب ٩٥/٢ - اللباب فى تهذيب الانساب ٧٠/٢ د سمعانى النساب ٩/٤)

١٤- جعفر بن محمد بن احمد بن محمد علوى حسينى نيشاپوري (د سمعانى النساب ١٢٨/٣ - بغداد تاريخ ٢٣٦/٧)

١٥- حارث بن عبدالله اعور همداني (ميزان الاعتدال ٤٣٥/١-٤٣١ الضعفا و المتروكين: ٧٧ مخ - د ذهبي تاريخ الاسلام ٩٠/٥- تهذيب التهذيب ١٤٥/٢)

١٦- حجر بن عدي (د ابن ابى الحديد شرح نهج البلاغه ١٠٠/١٥)

١٧- حسن بن محمد بن اشناس متوكلى حمامي (ميزان الاعتدال ٥٢١/١- بغداد تاريخ ٤٢٥/٧-٤٢٦)

١٨- حسين ابى ابى جعفر ابو على (د يافعى مراه الجنان ٢/٣-٣)

١٩- حسين بن احمد بن محمد بن جعفر بن حجاج (وفيات الاعيان ٥٤١/١ لسان الميزان ٣٦٣/٢)

۲۰- حسین بن موسي بن محمد بن موسي بن ابراهیم بن امام موسى بن جعفر (وفيات الاعيان ٤١٥/٤، ٤٢٠ - نجوم الزاهره ٢٢٣/٤ - مجالس المؤمنين ٥٠٠/١)

٢١- حمران بن اعين (تهذيب الكمال ٣٠٧/٧، ٣٠٨ - تاريخ الاسلام ذهبي ٤٠٢/٨)

٢٢- خالد بن طهمان ابوالعلا كوفي خفاف (ميزان الاعتدال ٦٣٢/١ انساب سمعاني ٣٦٨/٢)

٢٣- زراره بن اعين (ميزان الاعتدال ٦٩/٢)

٢٤- سالم بن ابي حفصه ابو يونس كندي (ميزان الاعتدال ١١٠/٢- ذهبي تاريخ الاسلام ٤٣٥/٨)

٢٦- سعاد بن سلمان (تقريب التهذيب ٢٨٥/١ (عسقلاني) ذهبى الكاشف ٢٧٦/١)

٢٧- سعد بن طريف حنظلى اسكاف

تهذيب التهذيب ٤٧٣/٣-تقريب التهذيب ٢٨٧/١ د ذهبى الكاشف ٢٨٧/١)

٢٨- سهل بن احمد د يباجي (سماني، انساب ٥٢٣/٢ بغداد تاريخ ١٢١/٩-١٢٢- و فيات الاعيان ٣/ ٤٤١)

٢٩- عبادبن يعقوب رواجنى (ميزان الاعتدال ٣٧٩/٢ سمعانى انساب ٩٥/٣ - المجروحين ابن حبان ١٧٢/٢)

الباب فى تهذيب الانساب ٤٧٧/١ - تهذيب التهذيب ١١٠/٥- جامع الاصول ٩٩/١)

٣٠- عبدالرزاق بن همام ضعاني (كامل ابن اثيره ٤٠٦/٦)

٣١- عبدالسلام الحمصي ابو محمد پر ديك الجف ملقب

حياه الحيوان د ميري ٣٤٩/١- وفيات الاعيان ١٨٤/٣

٣٢- عبدالسلام بن صالح ابو الصلت هروي

سپراعلام انبلا ٤٤٦/١١-٤٤٨-ميزان الاعتدال ٦١٦/٢ اسنى المطالب، ١٢٤ مخ - سمعانى انساب ٦٣٧/٥ ابن حبان المجروحين ١٥١/٢

٣٣- عبدالله بن الحسين الازدى ابوحريز تاضى سجستاني ميزان الاعتدال ٤٠٦/٢ - ابن عدى كامل ١٥٨/٤-١٦١)

٣٤- عبدالله بن مسكان (قاموس المحيط ٣٢٩/٣ معجم رجال الحديث ٣٢٤/١٠

٣٥- عبدالله پر عاضد ملقب وفيات الاعيان ١١٠/٣

٣٦- عبيدالله بن موسى (ميزان الاعتدال ١٦/٣ - سپراعلام انبلا ٥٥٣/٩-٥٥٦- د ذهبي تاريخ الاسلام ٢٨٣/١٥ او دول اسلام ١٣٠/١- جامع الاصول ١٠٠/١- سمعاني

انساب ١٤١/٤ د ابن اثير كامل ٤١١/٦-الباب فى تهذيب النساب ١١٤/٢)

٣٧- علي بن احمد بن مهدي حافظ دارقطني (ابوالحسن) سمعاني، انساب ٤٣٨/٢

٣٨- علي بن حزور (ميزان الاعتدال ١١٨/٣، ٢٧١/١- تهذيب الكمال، . ٣٦٦/٢- تهذيب التهذيب ٢٩٦/٧-٢٩٧)

٣٩- علي بن الحسين بن موسى پر سيد مرتضى مشهور وفيات الاعيان ٤٤٣/٣-٤٤٤-البدايه و النهايه ٦٦/١٢

٤٠- علي بن غراب فزاري كوفي ضافي ميزان الاعتدال ١٤٩/٣- تهذيب التهذيب ٢٧١/٧

٤١- عمر بن حماد بن طلحه قناد (ميزان الاعتدال ٢٥٤/٣)

٤٢- فضل بن دكين حافظ ابو نعيم (ميزان الاعتدال ٣٥٠/٣ تاريخ الاسلام ذهبي ٣٤٠/١٥ - كامل ابن اثير ٤٤٥/٦)

٤٣ - فطر بن خليفه ابوبكر مخزومي (تهذيب التهذيب ٣٠٠/٨ ميزان الاعتدال ٣٦٣/٣)

٤٤- قاسم بن عيسى ابو دلف الامير الجواد المشهور وفيات الاعيان ٧٣/٤-٧٨

٤٥- قيس بن عُباد قيسى ابو عبدالله (ذهبي تاريخ الاسلام ١٧٣/٦) وفيات الاعيان ١٠٦/٤-١٠٧-ابوالقرج، اغاني ٢٥/٩)

٤٦- كثير نواء كوفي (ميزان الاعتدال ٤٠٢/٣)

٤٧- كميت بن زيد اساري (وفيات الاعيان ٢٢٠/٥- د دمشق لنهتاريخ ٢١٥/٢١ - د سيوطي شرح شواهد المغنى / الغدير ١٩٠/٢)

٤٨- كُميل بن زياد نجفي (الاصابه ٣١٨/٣- تهذيب التهذيب ٤٤٨/٨ - طبقات ابن سعد ١٧٩/٦ - تهذيب الكمال ٢٤١/٢٤)

٤٩- مالك بن الحرث اشتر نجفي (و فيات الاعيان ١٩٥/٧)

٥٠- محمد بن الحسين موسوى (مرآه الجنتان ١٨/٣- لسان الميزان ١٥٩/٥)

٥١- محمد بن راشد مكحولي (سمعانى انساب ٣٧٤/٥)

٥٢- محمد بن السائب كلي (سمعاني الساب ٨٨٦/٥

۵۳- محمد بن عمثان عمري (سمان): كامل ابن اثير ۱۰۹/۸

٥٤- محمد بن الفضيل ضبی ابو عبدالرحمان (ميزان الاعتدال ٩/٤) سمعانی، انساب ۲۷۹/۲، ۲۸۰ - ١٠/٤، (١١)

۵۵- محمد بن محمد بن الحسن نصير الدين طوسي پر خواجه مشهور
(رياض العلما ١٦١/٥ - البدايه و النهاريه ٣١٣/١٣)

٥٦- محمد بن محمد بن نعمان (يافعی، مرآه الجنان ٢٨/٣)

٥٧- محمد بن يعقوب ابو جعفر رازي كليني (جامع الاصول ٢٢٠/١٢- ٢٢١ - سنن ابي داود ١٠٩/٤، ٤٢٩١ حديث مشكوه المصابيح ٨٢/١، ٢٤٧ حديث، جامع الاصول ٦٣/١٢ قاموس المحيط ٢٦٥/٤

۵۸- نعمان بن محمد مغربی ابو حنيفه (دول الاسلام ذهبي ٢٢٤/١) و فيات الاعيان ٤١٥/٥

٥٩- نفيع بن الحارث ابو داود همداني كوفي اعمى ميزان الاعتدال ٢٧٢/٤

٦٠- هشام (نواقض الرفض بر زنجى (د ميرزا مخدوم د نواقص الرفص لندٍيز): الهفوة الخامسه (د آيت الله موعش كتابتون خطي نسخه: ٧٥٢٤) قاموس الميحط ٢٦٩/٣

٦١- يحيى بن يعمر نحوي بصري تابعي (وفيات الاعيان ١٧٣/٦)

٦٢- يونس بن حباب (ميزان الاعتدال ٤٧٩/٤ - قاموس الميحط ٦١/١)

## مأخذونه

په دې څېړنه کې له لاندې ماخذونو ګټه اخستل شوې ده:

١- محمد حسين جلالي؛ احاديث شيعه.
٢- علي شهرستاني عراقی عالم؛ والضوء النبي (فارسي ژباړه)
٣- محمد علي كرمانشاهي؛ سنة الهدايه و الهداية السنة.
٤- استاد ناصر مكارم شيرازي؛ اعتقاد ما.
٥-بې آزار شيرازي؛ همبستگي مذاهب اسلامي.
٦- علامه سيد مرتضى عسكري؛ بر گستره سنت.
٧- در جستجوي حقيقت-
٨-غلام رضا كاردان؛ عدالت صحابه.
٩- عدالت الصحابه- ډاکټر احمد حسين يعقوب اردنی